بسم الله الرحمن الرحیم

# د ښځو حقوق
# د منبر له لوري

## د کتاب ځانګړ تیاوې:


د کتاب نوم: **د ښځو حقوق د منبر له لوري.**

تألیف: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څیړني او د اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست.

روستنی کتنه: شیخ فریدالله ازهري

خپروندی: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څیړني او د اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست

کمپوز: ښایسته ګل "قیس نبی زاده"

د چاپ وار: لومړی ځل

د چاپ کال: (۱۳۹۹) هجري لمریز کال.

د چاپ شمېره: (۳۵۰۰) ټوکه.

د چاپ لګښت: د ملي قطعنامې د عملي پلان (۱۳۲۵) (د سولې او امنیت ښځې) ځانګړې بودیجې څخه، د جندر آمریت په همغږۍ

د چاپ ځای: د دارالاسلام مطبعه، کابل.



ایمیل آدرس: islamicresearch@mohia.gov.af

آدرس: شهرنو کابل افغانستان



**ټول حقوق او امتیازات د خپروندی لپاره محفوظ دي**

## فهرست (لړليک)


عنوان ........ مخ

تقريظ ........ ۱

سريزه ........ ۵

### په اسلام کې د مسلمانې ښځې منزلت او مرتبه

ښځه په اسلام کې څه حيثيت او مرتبه لري؟........ ۱۳

د ښځې احترام د مور په توګه........ ۲۶

د لور په توګه د ښځې عزت........ ۳۲

د ماندينې په توګه د ښځې تکريم........ ۳۸

### د ښځو تعليم او تحصيل د اسلام له نظره

د علم فضيلت د قرآن کريم له نظره........ ۴۵

د نبوي احاديثو په رڼا کې د علم فضيلت........ ۴۷

ښځو ته دعا تعليم........ ۵۴

د ښځو پوښتنې د دوي د دين په اړوند........ ۵۵

د ديني او علمي مسايلو په اړوند د ښځو پوښتنه........ ۵۶

ښځې د نارينه وو په څير بايد علم نشر او خورکړي........ ۵۷

د نارينه لخوا ښځو ته د وعظ او تعليم حکم........ ۵۸

د ښځو ليکنه او دم دعا........ ۶۰

د ښځو د تعليم او تحصيل ضرورت........ ۶۰

د ښځو د تحصيل اصول........ ۶۱

په افغانستان کې د ښځو د تعليم او تحصيل پرمهال حقوقي موانع او دهغې بدې ..... ۶۲

د اسلامي تعاليمو په رڼا کې د ښځو د تحصيل او تعليم اهداف په لاندې ډول دي.. ۶۳

د ښځو لپاره د عصري او دنيوي علومو زده کړې حکم........ ۶۴

## د ښځې حقوق او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي حرمت


په لغت کې د حق تعريف ........................................ ۶۹
د حق اصطلاحي تعريف ........................................ ۷۰
د ښځو د حقوقو تاريخي لړليد ........................................ ۷۲
د اسلام نه مخکې د ښځو وضعيت ........................................ ۷۴
د ښځو حالت د اسلام ځليدونه وروسته ........................................ ۷۶
د نارينه او ښځې د ميراث تفاوت په اړه يو اشکال ........................................ ۸۲
دښځو په بدو کې ورکول ........................................ ۹۰
د ښځو د حقوقو په اړه ستونزې ........................................ ۹۴
د حل لارې ........................................ ۹۵
پايله ........................................ ۹۶

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

## وزير فضيلتمآب محترم محمد قاسم "حليمي" تقريظ

الحمد لله الذي أرشدنا بقوله: {مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ}.(النحل :٩٧) والصلاة والسلام على سيدنا محمد الذي قال: **(استوصوا بالنساء خيرا)**. (متفق عليه) و على آله وأصحابه أجمعين.

**وبعد!**

نارينه او ښځينه دواړه د انساني ټولنې اساس او بنسټ دی، نو ښځې د ټولنې نيمه برخه جوړوي بلکې له دينه هم زياته، د ښځو فضائل او غوره والی په ډېرو آياتونو، احاديثو او سلف صالحينو په اقوالو کې شتون لري، په ښځو کې د مريم بنت

عمران، آسیا د فرعون میرمن، خدیجة الکبری، بي بــي عائشــه صــدیقه او نــورې أمهــات المــؤمنین، فاطمة الزهراء او داسې نورې بي بیانې رضوان الله تعالی علیهن اجمعین ـ په څیر ښځې شتون لري.

ښځې د ټولنې ډیرې حیاناکې او د خپلو حقوقو لاس ته راوړلو ضعیف قشر دي، چې ډیرو وختونو کې د دوی حقه حقوق د ګڼو وکړو او افرادو له لوري کله د پلرونو، کله د ورونو، کله د خپـل او خپلوانـو او کلـه د نـورو چـارواکو او زورمندانو لـه طرفـه پـه ډول ډول طریقو او بهانو سره لـه نظر غـورزیږي او حا ل داچې ښـځې د اسلام مقدس دیـن کـې سـتر مقـام او لـوړه مرتبه لري، نو اړینه وه چې د دوی د حقوقـو تـر لاسـه کولو په اړوند لاژمې کړنې ترسره شي نو بایـد پـدې هکله ډول ډول لیکنـې، مقـالې، رسالې او مختلفـې برنامې جوړي شي ترڅو ښځینه جنس د خپلو حقوقو څخه په بصیرت کې شي او نور عام وګړي هم د دوی

اړوند حقوقو نه څه پوهاوی تر لاسه کړي او د دغه مهربان قشر حقوقو لاسته راوړنه وشي، چې لله الحمد په دې کتاب **(د ښځو حقوق د منبر له لوري)** کې په ښه **تفصيل** سره ذکر شوي.

نو د دې کتاب چاپ او خپرول د ديني او روحاني ټولنې او همدارنګه دعامو وګړو د روزنې او تزکيې په موخه او د يو سالم **عاقل** نسل د روزلو لپاره او بالخصوص پدې حساسو شرائطو کې چې کلتوري او مادي يرغل انسانيت تهديدوي، نو د دغه کتاب په څير کتابونه زه د ټولنې لپاره اړتيا او يو رښتنی ضرورت بولم.

د مبالغې پرته د خيرڼې او اسلامي علومو د مطالعاتو رياست تصميم په تأليف د دغه کتاب باندې چې **(د منبر له لوري د ښځو حقوقو)** په هکله يوه ښه بيلګه ده چې د ښځو حقوق يې په ښه توګه

د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې واضح کړې دی د خیړنې او اسلامي علومو مطالعــاتو ریاســت رئــیس او د دې ریاســـت د دیپـــارټمنټونو مســـؤولینو او د ټولو مسلکي کارشناسانو کوښښونه د ستاینې او تقدیر وړدي.

په اخر کې د الله پاك جل جلاله څخه په ډیر اخلاص د دوي لپـــاره د لاړیـــاتو علمـــي خـــدمتونو او د ظرفیتونو د لوړتیا غوښتنه کوم.

وما ذالک علی الله بعزیز

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت وزیر**

**محمد قاسم "حلیمي"**

کابل شهرنو، وږی ۱۳۹۹

# د ښځو حقــوق د منبـر لـه لــوري

# د ښځو حقــوق د منبـر لـه لــوري

# د څيړنې او اسلامي علومو د مطالعاتو رياست سريزه

الحمد لله الذي قال في محكم كتابه: {يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورأَو يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ} .(الشورى: ۴۹-۵۰) والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين.

**واما بعد:**

د الله پاك په فضل سره د موږ ټولنه بشپړه اسلامي او په خپل اسلامي مقدس دين باندي په هر ډول شرائطو کې محکمې منګلې لګولي دي او کله چې د خپلو امامانو علماؤ، روحانيونو څخه د منبر او محراب د لارې ديني مسائل او احکام واوري - ان شاء الله - هغه به په ټولنه کې ډير ژر په عملي بڼه

شتون پیدا کړي، بناءً دې دغه کتاب (**د ښځو حقوق د منبر له لوري**) محتوی چې د ښځو حقوقو په اړوند لیکل شوی، په ټولنه کې به ډېر ژر مثبت او مؤثر تغییر راولي او ښځې به هغه خپل شرعي حقوق چې د دوی عـزت، وقـار او قـدر پکـې رانغښـتل شـوی دی، وپېژني او غوښتنه یې هم کولای شي او د هغو تس په نامه حقوقو چې په حقیقت کې د ښـځو آبـرو، عـزت، وقـار او قـدر لـه منځـه وړي اود دې پرځـای دوی ته ذلـت، سپکاوی او تحقیـر ورکـوي، څخـه بـه ځانونه وساتي.

لله الحمد د افغانستان اسلامي جمهوریت د ارشاد، حج او اوقـافو وزارت د څیړنـې او د اسلامي علومـو د مطالعــاتو ریاســت د خپلــو علمــي او څیړنــې خـدمتونو پـه درشـل کـې د خطیبـانو، أئمـه وو او واعظینــو لپــاره د اســلامي شــریعت ســپېڅلي احکامو، اسلامي ارزښتونو، عـام اسلامي معـارف

او فرهنـګ پـه هکلـه ګـڼ مهـم، مفيـد او هـر ډول تأليفات چاپ او نشر کړه ترڅو د موږ ګران هيـوادوال د خپل د دين اړوند چارو څخه با خبره اوسي، دغـه تګلاره به د موږ پـه ټولنـه کـې ـ إن شـاء الله ـ د پام وړ تغييـر راولـي او لـه دې لارې بـه مـوږ دينـي علمـاء د ديـن د خپرولـو پـه اړونـد خپـل ديني مسـؤوليت هـم اداکړو او په پای کې به نيکمرغی او پوهـاوی رامنځ ته شي دا ځکه چې هره جامعـه دعلم، پـوهې پـه رڼا کـې سـوکالی، ترقـی، پـرمخ تـګ، سـعادت او نيـك بختي ته رسيږي.

نــو ليکنــې، تأليفــات، تصــانيف او ټــولې علمــي برنـامې د ټولنې د پـوهې کچـه لـوړوي او د دې آيـت مصداق يې ګرځوي: **{يرفع الله الذين امنوا منكم والذين اتوا العلم درجات}**( المجادلة:۵۸).د تـاسو څخه هغـه کسـان چې ايمان لري او هغه کسان چې پوهـه ورکـړل شـوی

دى الله پـاك يـې پـه درجـو سره پورتـه کـوي. نـو دغـه سې علمي ليکنې بـه مـوږ تـه لـوړوالی او پوهـه را پـه برخه کوي.

په پای کې د الله تعـالى څخـه خپلـو ټولـو همکـارانو او د ديپارټمنټونو آمرينو ته د لاڑيات علمي، څيړني او تحقيقي خدمتونو غوښتونکی يم او الله پاك دې د دوی کوښښونه او زيارونه پـه خپـل دربـارکې قبـول کړي - **إذ إنه قابل التوبة و مجيب الدعوات**.

**محمد شريف رباطي دراني**

**د څيړنې او اسلامي علومو د مطالعاتو رئيس**

**کابل، شهرنو، وږی، ۱۳۹۹**

# په اسلام کې د مسلمانې ښځې منزلت او مرتبه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبيـاء والمرسـلين محمـد و علـى آلـه و صـحبه أجمعين.

اما بعد: فقد قا ل الله سبحانه و تعالى في محكم كتابه، أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم:

**(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا)** [1]

په اسلامي ټولنه کې د ښځې حقونه او مرتبه یو داسی بحث دي چې اوس مهال نړدې په ټولو اسلامي

[1]- د النساء سورت ۱ آیت.

هیوادونو او د نړۍ په کچه په بیلابیلو درجو مطرح دی، د اسـلام دښـمنان پـه اسـلامي هیوادونـو او د مسلمانانو په کورنیو کې د شته دودونو او تعاملاتو په استناد چې د ښځو په وړانـدې ترسره کېږي لکـه: د میـراث نـه ورکـول، د ښـځو پلـورل، تحصـیل او تعلیم څخه محرومول، د کور نـه بهرکـار سیاسـي او اقتصادي فعالیت، او لسګونو نورو مسألو پـه څیـر چې پکې په یو ډول د ښځې حقوق او حیثیت تر پښو لاندې کېږي او د ښځې انسان والی له پامه غورځول کېږي، ته ګوته نیسـي او هغـه د اسلامي احکـامو او شرعي قوانینـو نـه راولاړ ګڼي پداسې حال کې چې کچېـري پـه رښـتیا څېړنـه وشـي جوتـه بـه شـي چې د ښـځو حقـوق تـر پښـو لانـدې کېـدل او دعغـوی پـه وړانـدې تـاوتریخوالی چې ترسره کېږي د اسلام نـه سرچېنه نه اخلي بلکه ریښـه یې د قـومي او قبیلوي رواجونو او دودونو پورې نښـتې ده، چې خلك یې د

نـاپوهۍ لاملـه د اسـلامي احکـامو او شـریعت پـوری تړي.
زمونږ په هیواد کې داسې کسـان او ډلې شـته چې د دښمنانو په ویناؤ او لیکنو په منلو سره دغـه وینـاوې رواجــوي او د اســلام مقــدس دیــن او خــوږ پیغمبــر تورنــوي چــې ګــواکې د ښــځوحقوق تــر پښــو لانــدې کوي.
یــوه د مصــرف ځخــه ډکــه پروســه چــې د یــو نیمــې لســیزی پــه تــرخ کــې دوده او پریمانــه پانګــه پــرې لږیــدلې، ښــځو تــه د حقونــو ورکــول د هغــوی پــه وړانــدې د تــاوتریخوالي پــه ضــد مبــارزه ده دغــه پروګرام د زیاتو مصرفونو او هر اړخیزه هڅو سره، سره مثبته نتیجه نده ورکړي، نه یوازې د ښځو په وړانــدې تــاوتریخوالي کمښــت نــدی کــړی بلکــه زیــاتوالی یــې مینــدلی ځکــه پــدې درې وروســتیو کلونـو کـې د بانډو کلیـو او ولایتونـو نـه د ښـځو پـه

وړانـدې د تـاوتريخوالى بوګنـوونكي خبرونـه اورو، ددې رپوټونـو نتيجـې دليـل دا دى چـې د ښـځو پـه وړاندې د تـاوتريخوالي پـه ضد مبارزې پروګرام پـه افغانستان كې اصولا په غلط بنسټ طراحي او پرمخ بيول كېږي، دغه پروګرامونه چې اكثـرا د مشـكوكو تمويل كوونكو لخوا طرح او پلي كېـږي ددې پرځاى چې د خشـونت پـه لاملونـو او انګيـزو سـره مقابلـه وكړي د ښځو د حقونو او مرتبې په هكله په اسلامي احكـامو حملـه كـوي او پـه حقيقـت كـې د ښـځو پـه وړانـدې د تـاوتريخوالي پـه ضـد تـر سرليك لاندې د شريعت په وړاندې مبارزه كوي.

د دې لپاره چې زمونږ مسلمان وروڼه په اسلام كې د ښـځو منزلـت او مرتبـې نـه خبـر شـي او د اسـلام د مخـالفينو تورونـه څرګند شي د نـن ورځـې د خطبـې موضوع مو په اسلام كې د ښـځو مرتبې تـه ځانګړې

کړې تر څو جوته شي چې آیا په رښتیا په اسلام کې د ښځې مرتبه او حقوق له پامه غورځول شي او کنه؟

## ۱- ښځه په اسلام کې څه حیثیت او مرتبه لری؟

ښځه په اسلام کې د نارینه اصلی خور ده چې ورسره په انسان والي، انساني کرامت کې پرته د ډیر لږ کمښته شریکه ده او دواړه د الهي تکلیف د خطاب ورتیا کې یو شان دي. اسلام په وضاحت سره اعلاموي چې ښځه او نارینه په اصل پیدا ینښت، بشري عامو خصوصیاتو، تکالیفو او مسئولیتونو په تحمل په جزا او سزا کې سره یو دي.

قرآنکریم پدې اړه فرمایي: (**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا**).[1]

[1]- النساء سورت: ۱ آیت.

ژباړه: ای خلکو! د خپل پالونکي له (غصی) نه ځان وساتئ هغه پالونکې مو چې تاسې يې د يو انسان نه پيدا کړی بيايې د هغه ښځه د هغه له ډلې پيدا کړه او ددغـو دوو څخـه يـې (د ځمکـې پـرمخ) پريمانـه نارينـه او ښـځينه خپـاره کـړل او د هغـه پـالونکي لـه (غصی) ځان وساتئ چې يو بل ته پرې قسم ورکوئ او د دينه بيره وکړئ چې د خپلولۍ اړيکې وشلوئ (اوصله رحمي لـه پامـه وغورځوي) ځکـه بيشـکه الله جل جلاله ستاسو څارونکې دی (او ستاسو کړه وړه د هغه له سترګو پټ نه دي).

کلـه چـې الله جـل جلالـه خلـك نارينـه او ښـځې د يـو نفس نه پيدا کـړل بيـايې ددې نفس نـه د هغـه جفت پيدا کـړ ترڅو پوره شي بيـايې ددی يـوه نـه بشـری کورنۍ زيات نارينه او ښـځينه پيـدا کـړل چـې ټـول د يـو پـالونکي بنـدګان، د يـو مـور او پـلار اولاد دي، دهمـدې لاملـه د آدم عليـه السـلام اولاد نارينـه او

ښـځينه د بشـري اخـوت پيونـد راټـول کـړي دي. دې قرآنـي نـص تـه پـه کتـو نارينـه د ښـځې ورور ښـځه د نارينــه خــور ده، پيغمبـر عليــه الســلام پـدې هکلـه فرمـايي: ( **إنما النسـاء شـقائق الرجـال)** . [1] (بيشـکه ښځې د نارينه وو به مثل دي).

اسـلام پـه شـرعي تکليفونـو، دينـداري، عبـادت کـې ښځه او نر سره مساوي ګڼي، قـرآن کـريم پـدې هکلـه فرمـايي: (**إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَـاتِ وَالْقَـانِتِينَ وَالْقَانِتَـاتِ وَالصَّـادِقِينَ وَالصَّـادِقَاتِ وَالصَّـابِرِينَ وَالصَّـــابِرَاتِ وَالْخَاشِـــعِينَ وَالْخَاشِـــعَاتِ وَالْمُتَصَـــدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّـائِمَاتِ وَالْحَـافِظِينَ فُـرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالـذَّاكِرَاتِ أَعَـدَّ اللَّهُ لَهُـم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا**). [2]

---

[1]- سنن أبي داود حديث: ۲۳٦.

[2]- د الأحزاب سورت: ۳۵ آيت.

ترجمه: مسلمانان نارینه او ښځینه مسلمانې، نارینه مؤمنـان، ښـځینه مؤمنـانې، د الله د فرمـان منـونکي نارینـه او ښـځینه، رښـتیني نارینـه او ښـځینه، زغـم لرونکــي نارینــه او ښــځینه، متواضــع نارینــه او ښځینه، صدقه کـوونکي نارینـه او ښـځینه روژه تـي نارینــه او ښــځینه پـاکلمني نارینــه او ښــځینه، الله زيات یادونکي نارینه او ښځینه الله جل جلالـه دغـو ټولو ته ښښنه کوي او ستره جزايې ورته چمتو کړې.
همدا شان اسلام ښځه او نر د اطاعت په جزاء کې او د ګناه په سزاء کې یو شان ګرځولي پدې معنـا چې د نارینـه حسـنات د نارینـه تـوب لاملـه يـې نـه زيـاتيږي همدارنګــه د ښــځې حســنات د ښــځې تــوب لاملــه کمښت نه مني.
نو کله چې نارینه یا ښـځه کومـه ګنـاه وکـړي د دواړه سـزا یـو شـان ده یعنـې د ښـځې والـي لـه مخـه نـه زیاتیږي همداشان د نارینه سزا د نـارینتوب لـه امله

کمښــت نــه مــومي، الله تعــالی فرمــايي: ﴿**وَالسَّــارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقطَعُوا أَيدِيَهُمَا**﴾[1]

معنا: دغله نارينه او ښـځينه غلې لاس د هغـه کړنې په سزاء کې چې ترسره کړې ده د مجازات په ډول پرې کوئ. همداشان الله جل جلاله د توبی سورت په (۷۱) آيـت کـې نـر او ښــځه پــه خپلـو اساســي، اجتمـاعي مسـئوليتونو ترسـره کولـو کـې يـو شـان اعلان کړی او فرمايي: ﴿**وَالْمُؤْمِنُـونَ وَالْمُؤْمِنَـاتُ بَعْضُـهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُـونَ الصَّــلاَةَ وَيُؤْتُــونَ الزَّكَــاةَ وَيُطِيعُــونَ اللّهَ وَرَسُــولَهُ أُوْلَئِــكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ**﴾.[2]

ترجمـه: مـؤمن نارينـه او ښـځې ځينـي د ځينـې نـورو دوستان او مرستدويان دي، يو بل ښه کـار تـه رابلي او بد کارنه يې راستنوي او لمونځ ځنګه چې شـايې

[1]- د المائدې سورت: ۳۸ آيت.

[2]- د التوبه سورت: ۷۱ آيت.

اداء کــوي، زکــات ورکــوي، او د الله او دهغــه د پیغمبر فرمان وړي، دوی هغه کسان دي چې ډیـر ژر به الله جل جلاله په خپل رحمت کې راونغاړي. د آدم علیه السلام په کیسه کې ګورو چې الهي تکلیف آدم او دهغه ماندینی حوا ته یو شان متوجه دی لکه چې فرمايي: (**وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَداً حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَا هَـذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الْظَّالِمِينَ**). [1]

ژباړه: ومو ویل ای آدمه! د خپلې ماندینې سره په جنت کې هستوګن شه او دهغه د (پریمانه او خوږو نعمتونو) نـه هـر څـه او هرځـای کـې چـې غـواړئ خوشحاله او آرامه وخورئ خو دغې ونې ته مه نـږدې کیږئ او خوراك ترې مه کوئ، ځکه (که داسې مو وکړل) ظالمانه به وئ.

[1]- د البقرې سورت: ۳۵ آیت.

د پام وړ جالبه نقطه پدې کښــه کې دا ده چې قـرآن کريم د تورات په خلاف د آدم عليـه السـلام غوليدنـه شيطان پورې تړي، نه د حوا پورې لکه چې فرمـايي: (**فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ**)[1]

ترجمه: خو شيطان دواړه وغلول او هغوي يې د هغـه ځايه چې پکې ووڵ وويستل.

همدارنګـه د قـرآن پـه کښــه کـې دادې چـې حـواء داسې نـده چې پـه يـوازې سر يې د ممنوعـه ونې نـه وخوړل او نه هغه ددې کار پيلوونکې ده بلکه خطا د دواړه (آدم او حـواء) څخـه ترسره کيـږي همـدا شـان دواړه پښـيمانه او توبـه ګـار کيـږي لکـه چې الله جل جلاله فرمايي: (**قَالاَ رَبَّنَـا ظَلَمْنَـا أَنفُسَـنَا وَإِن لَّـمْ تَغْفِـرْ لَنَـا وَتَرحَمنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الخَاسِرِينَ**).[2]

---

[1]- د البقرې سورت: ٣٦ آيت.

[2]- د الأعراف سورت: ٢٣ آيت.

ژبـاړه: (آدم او ښـځې يـې ( د الله پـه لـور د دعـا لاس پورته او) وی ویل: پالونکېه! مونږ(ستا پـه نافرمـانـۍ کولو سره)په خپل ځان تيری کړی نو کـه ببنـنه راتـه ونکړی) او رحم را باندی ونکړی زيان کوونکو څخـه به يو.

په ځينې قرآني آيتونو کې په اساسي ډول خطا خپلـه آدم عليه السـلام پوری تړل شـوی لکـه چې فرمـايي: (وَلَقَد عَهِدنَا إِلَى آدَمَ مِن قَبلُ فَنَسِيَ وَلَم نَجِد لَهُ عَزمًا)[1]

ترجمه: مونږ له دې څخه مخکې آدم عليه السـلام تـه امر کړی ؤ، خو هغه هيـر کـړ او مـوږ پـه هغـه کې تصميم ونه مونده.

(فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَـلَى شَـجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَى فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَـوْآتُهُمَا وَطَفِقَـا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى).[2]

[1]- د طه سورت: ۱۱۵ آیت.

[2]- د طه سورت: ۱۲۰-۱۲۱ آیتونه.

ژباړه: بیا شیطان (چل او دوکه پیل کړه او آدم) ته یې وسوسه واچوله (او ورته یې) وویل: آیا تاته تلپاتې ونه او فنا نه منونکې پاچایي دروښیم؟ (کچېرې دغه منع شوی ونې نه څه وخوری نونه مری او تلپاتی کېږئ) په پای کې دواړه کسانو ترې وخواړه (اوجنتي جامی یې د بدن څخه لرې شوی او) خپل عورت یې ولیده چې تردغه مهاله ترې پټ ؤ او پیل یې وکړ د جنت د ونو پاڼې یې پر خپل ځان تاو او ونښولي آدم علیه السلام د خپل رب نافرماني وکړه او له سمي لارې څخه واوښت.

همغه شان چې: توبه یوازې آدم پورې تړل شوی: (ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى)[1]

معنا: بیا د هغه پالونکي هغه (د پیغمبرۍ) لپاره غوره کړ او توبه یې ومنله او د (اعتذار او استغفار په لور) وهڅول ټول یاد شوي آیتونه پدې نکتې

[1]- د طه سورت: ۱۲۲ آیت.

دلالت کوي چې د حواء او آدم کېسه کې د ګناه کولو کې نارینه اصل او ښځه ورپسی ده. نو دهمدې لامله ښځه په اسلام کې د بشري ګناه لومړۍ مسئوله او د آدم د اغوا او د جنت نه د شړلو لامل ندی لکه چې یهود او نصاری عقیده لري.

بالغرض که ومنو چې حواء د هغه لامل وه بیاهم د دغې ګناه د پایلو مسئولیت د حواء پرته د بل چا پر غاړه نده پدې مینځ کې د حواء لورګانې (ښځه) د حوا ګناه وړلو څخه بریئ دي، ځکه الله پاك فرمایي: (ولا تزر وازرة وزر أخرى)[1] ژباړه: هیڅ کوم نفس د بل نفس ګناه په غاړه نه اخلي.

د اسلام سپیڅلی دین انسان مکرم اعلام کړی او د هغه دغوره والی معیار یې تقوی او صالح عمل ګرځولی لکه چې فرمایي: (يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن

[1]- النحل سورت: ۳۵ آیت.

**ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ).** [1]

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسې د یو سړی او ښځې (د آدم او حوا څخه) پیدا کړی یاست او تاسی مو قبیله قبیله ټبر، ټبر ګرځولي یاست ترڅو یو بل و پیژنۍ (او هر څوك په داخلی او بهرنی توپیر او ځانګړی خصوصیت سره د بل څخه مشخص شي او د ټولنې په جوړښت کې ځانګړی اغیز ولري) بیشکه تاسو کې غوره د الله په وړاندی ډیر متقی ستاسو دی.

دغه دوه آیتونه په زغرده دلالت کوي چې : د انسان دواړه برخې (نر او ښځه) د الله په کتاب او دین کې مکرمې دي، بی لدی چې د ذکورت او انوثت توپیر د دغه الهي تکریم په زیاتوالي او کمښت کې اغیز ولري دغلته ده چې ګورو چې په اسلام کې انساني

[1]- د الحجرات سورت: ۱۳ آیت.

ارزښت د ښځې د مؤنث والي په خاطر کمښت ندی موندلی.

بلکه اسلام د ښځې مونث والی تقدیر کړی او هغه يې د نارينه پوره کوونکې عنصر ګڼلی په همغه شان چې نارينه د ښځې پوره کوونکي دی. نو ښځه او نارينه د اسلام له لړليده يو د بل دښمن ندی او نه هم يو د بل ضد او رقيب دی بلکې د انسان شخصيت او نوعی په تکميل يو د بل مرستندويه دی.

په اسلام کې، ښځه په ټولو حالاتو کې مور وي که خور او لور محترم او مکرم انسان دی ځکه ښځه د بشريت نيمه ټولنه ده داسې نيمايي چې د ټولنې په ژوند کې خورا اغيز لري، ځکه ښځه لومړنۍ مدرسه ده چې بشري نسلو ته پکې جوړيږي او کوچنيان، تنکي ځوانان پکې پالل کيږي، ټول پوهيږو چې کوم څه چې ماشوم د مور څخه زده کوي

د هغې نه د بيلګې اخستو سره د هيواد راتلونکې او د ملت او ټولنې برخليك ټاکي.
ښځه د داسى موجود څخه عبارت دى چې د سړى په ژوند د اهميت نه ډك تاثير لري، ځکه ښځه د هغه ماندينه ده يعنى د روح د تسکېن او محبت توښه ده او دخاوند مرستندويه ده د ژوند د ادارې په سمون کې ښځه داسې زړه سواندى مور ده چې که د نړى ټول سړيان سره لاس ورکړي هيڅکله د هغى دنده د مور په توګه ترسره کولاى نشي، د ښځې پرته کوچنيان نه نازول کېږي، او نسلونه پالنه نه ويني، ښځه د نارينه مهربانه لور يا زړه سوا ندى خور ده.
د الله جل جلاله د مطلق عدالت يوه بيلګه داده چې د بشر دغړو تر مينځ د غوره والي ډګر يې کسبي او اختياري کړى.
نه قصدي او اجبارى پدى ډول چې د انسان لاس پکې کوم نقش نلري لکه ذکورت او انوثت، رنګ،

نـژاد ، قـوم، نسـب، او قبیلـه ځکـه دا ټـول اجبـاري کارونـه دي چـې د انسـان لاس د هغـو پـه راوسـتو او لرى کولو کې کوم تـاثير نلـري نـو يـاد شـوى کارونـه عقـلا او شـرعا د انسـانانو تـر مينـځ د غـوره والـي معيـار کېـداى نشـي، ځکـه ډيـرې صـالحې، خيـر غوښــتونکې هوښــيارې ښــځې پــه ډيــرو نــاپوهو، فاسـقو، بـد مرغـو نارينـه و بانـدى غـوره والـى او فضيلت لري، ښځه په کورنۍ او ټولنه کې اکثرا د درې ځانګړو حيثيتونو په درلودو سره حضور لـري چې هر يو يې د اسلام له نظره محترم او مکرم دى د لاتوضـيح لپـاره غـواړو د ښـځې مرتبـه مـوروالي، لوروالي او ښځه والي ته په پاملرني وځيړو:

**۲- د ښځې احترام د مور په توګه:** د بشر پـه تـاريخ کې هيڅ داسي نظام او ديـن نـدى ليـدل شـوى چـې د اسلام په کچه يې د ښځې احترام يې د مـور پـه حيـث کړى وي او مقام يې ورتـه پورتـه وړى وي، پـه اسـلام

کې د مور د تکریم په اړه کلکې سپارښتنې راغلې دي چې مورته احترام، د الله د عبادت او په توحید ایمان په کتار کې راوستل شوی او د مور سره ښیګڼه د دین د واجباتو په ډله کې توصیه شوی دي، په اسلام کې د مور حقونه هغو کړاوونو ته په کتو چې د حمل، زیږون، شیدو ورکولو، روزلو د ماشوم په مهال یې ګالي د پلار د حق څخه موکد ده او په تکراری ډول د قرآن کریم په څو آیتونو کې ذکر شوی تر څو د اولادونو په ذهن کې دغه حقیقت ښه ټینګ شي چې د مور حقونه د حقوق الله نه وروسته د حقونو په سرکې راځي چې یو انسان یې پربل لری لکه چې الله جل جلاله فرمايي: ﴿**وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ**﴾.[١]

[١]- د لقمان سورت: ١٤ آیت.

ترجمـه: مـونږ انسـان تـه د هغـه د پـلار او مـور پـه اړه سپارښت کړی (چې د هغوی په حق کې نیک اوسی او نیکي ورسره وکړي) خصوصا مور ځکه چې: مـور هغه په ګیډه کې ساتلی او هر مهال په تاند ضعف او کمزوری اختـه شـوی، د شـیدو خوړلـو پـای یـې دوه کالـه ده او (پـدی دوو کلونـو کې هم شـېدې یعنـی د مـور د بـدن زوبنـا ځښـي مـور پـدې ۳۰ میاشـتنۍ موده د حمل او شېدو خوړلو کې ډیر اړیـن خدمتونـه او ستري سربښندني وړاندې کوي، نو ځمونږ توصیه انسـان تـه داده چې) ځمـا او هـم د خپـل مـور او پـلار منونکې اوسه! او پوه شـه! چې په پـای کې بیـاځلی راتـګ ځمـا پـه لـور دی (او ښـو خلکوتـه جزا او بـدو خلکو ته سزا ورکوم).

په صحیح حدیث کې راغلي دی: ( جاء رجل الی النبـي صلی الله علیه وسلم یسأله: **من أحق الناس بحسن صحابتي؟**

**قال أمك قال: ثم من؟ قال: أمك قال: ثم من؟ قال: أمك قال: ثم من؟ قال: أبوك).**[1]

ترجمه: يو سړی پيغمبر عليه السلام ته راغی وی پوښته چې ځما د ډير ښه ملګرتيا وړ څوك دی؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: مور دی، هغه سړی و پوښت: بيا څوك؟ وی فرمايل: مور دی، وی ويل: بيا څوك؟ هغه حضرت وفرمايل: مور دی، وی ويل: بيا څوك؟ وی ويل پلار دی.

همدا شان روايت شوی : **(أن رجلا كان بالطواف حاملا أمه يطوف بها فسأل النبي صلى الله عليه وسلم هل أديت حقها؟ قال (لا) ولا بزفرة واحدة) أي من زفرات الطلق والوضع و نحوها).**[2]

---

[1]- متفق عليه.

[2]- مسند البزار، حديث: ٤٣٨٠.

ژبـاړه: یـو سـړی خپـل مـور پـه شـاکړی طـواف یـې ورکاوه د کعبې چارپیر نو د پیغمبر علیـه السلام نـه یـې پوښـتنه وکـړه آیـا د هغـی حـق مـی ادا کـړی؟ پیغمبـر علیـه السـلام وفرمایـل: نـه آن چـې د یـوی چېغې د هغې هـم یعنـی د اولاد د زیـږدون پـه مهال د مور د چېغو د یوی چېغې حق هم پـه بـل حدیث کې راغلي چې: ( **جاء رجل إلـى النبـي فقـال يـا رسـول الله أردت أن أغزو وقد جئت أستشيرك فقال: هل لك من أم؟ قال: نعم! قال: فالزمها فان الجنة عند رجليها**). [1]

ترجمـه: یـو سـړی پیغمبـر علیـه السـلام تـه راغـی وی ویل: یا رسول الله غـواړم پـه جهـاد کې ګډون وکـړم، راغلم ترڅو پـدی هکلـه تاسو سره سلا وکـړم رسـول الله صلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل: آیـا کومـه مـور لری؟ وی ویل: هو وی فرمایل: نو د هغـې سـره اوسـه چې جنت د هغـې د پښـو لاندې ده. پـه اسـلام کې د

[1]- سنن النسائي، حديث: ٣١٤٠.

مور د تکریم لـه بېلګو څخـه یـوه هم د نـا مسـلمانی مور سره نیکي ده پدې هکله یـو متفق علیـه حدیث د اسماء بنت ابو بکـر رضي الله عنهمـا څخـه روایت شوی چې: هغې د خپلی مشـرکې مـور سره د صلی رحمـی پـه اړه د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم نـه پوښــتنه وکــړه: رســول الله صــلی الله علیــه وســلم وفرمایل: (هو د خپلی مور صله رحم کوه)! ښـځې تـه د اسلام د پاملرنی یوه بله بېلګه دا ده چې: د مـور د عــاطفی مراعــات زیـات شـوی دی یعنــی: میــړه او عورتـه د ځینـو اسبابو لاملـه سره بیـل شي د ماشـوم مطلقـه مـور د پـلار پـه پرتلـه د هغـه د سـاتنی او حضانت ډیره وړ پیژندل شوی ده.

په حدیث کې راغلي دي: (**ان امرأة قالت: یا رسول الله! إن ابني هذا کان بطني له وعاء و ثديي له سقاء و حجري له**

**حواء و إن أباه طلقني و أراد أن ينتزعه مني! فقال لها النبي صلى الله عليه وسلم: أنت أحق به مالم تنكحي).** [1]

معنا: یوی ښځې پیغمبر علیه السلام ته وویل: یا رسول الله ! دغه ځوی مې چې ځما ګیډه د ده ځایګی وه، تیونه مې دده او به خور وو، ځما غېږ دده پنغالی وو اوس یې پلار ماته طلاق را کړی غواړی دی هم رانه واخلي! پیغمبر وفرمایل: تر څو دی چې خاوند نه وي کړی د ماشوم په ساتنه او حضانت کې ډیره مستحقه یې.

**۳- د لور په توګه د ښځې عزت:**

عربانو د جاهلیت په پېرکې د لورانو زیږول د بد مرغې او سپیره توب نښه ګڼله او پری خوا بدي کېدل چې په خواشینۍ سره دغه دود څمونږ په ټولنه کې هم شتون لري، جاهلي موروثي د دودونو او خویونو چې په عربو کې وو پلار ته یې اجازه ورکوله

[1]- سنن أبي داود، حديث: ۲۲۷۸.

چې: د فقر، بیوزلۍ یا هم د هغه ننګ او شرم لامله وژلې او ژوندۍ یې خښولې چې کېدای شو دغې نجلۍ د ځوانۍ په مهال یې خپلې کورنۍ، قوم ټبر ته یې راوړي.

قرآن کریم د عربي جاهلي ټولنې کې د لوڼو د زیږون په مهال د پلرونو حالت داسې بیانوي: (**وَإِذَا بُشِّرَأَحَدُهُم بِالأُنثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ يَتَوَارَى مِنَ الْقَومِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَم يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاء مَا يَحْكُمُونَ**). [۱]

ژباړه: (لوراني یې د بد مرغۍ سرټیټی او شرم نښه ګڼلې) او کله به چې د دوی کوم یوته د لور زیږون زیری وشو نو د ډیر خفګان لامله به یې بڼه و اوښته او توره به شوه او سخت په غصه وو او د خپل ټبر او قوم نه به یې ځان پټ کړ ځکه یې ډیر ناوړه زیری پرې شوی او لالهانده، سرګردانه به یې ځان سره

[۱]- د النحل سورت ۵۸-۵۹ آیتونه.

ويل: آيا دغه شرم ځان سره وساتی او ومنی او که د خاورو لاندي يې ژوندۍ خښـه کړي؟ هو ځومره بده فيصله چې دوی کوله!!

په همدغه شان شرائطو کې اسلام راغی او لور يې د شرم نښه نه بلکه د هلك په څېر يې د الله جل جلاله نعمت او پيرزوينه وګڼله چې خپلو بندګانو ته يې پيروز کوي. قرآن کريم پدی هکله وايي: ﴿يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ أَو يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾.[1]

ترجمه: چاته چې وغواړي لوراني وربښي او چاته چې وغواړي ځامن کوي يا دا چې هم ځامن ورکوي او هم لوراني او څوك شند ګرځوی چې خوښه يې وي هغه ډير پوه او ځواکمن دی.

په قرآني کيسو کې لولو چې: ځينی لورانو د ډيرو ځامنو په پرتله ډير ستر او تلپاتی کړنې ترسره کړې

[1]- د الشوری سورت ٤٩-٥٠ آيتونه.

دي لکـه چـې: دغـه حقيقـت د عمـران لـور مـريم پـه کېسـه کـې کسـو، چـې: الله جـل جلالـه هغـه ټـاکې پـاکوي يـې او د نـړۍ پـه نـورو ښـځو يـې غـوره والـی ورکـړی د مـريم کېسـه کـې راغلـي دي: کلـه چـې د عمران ښځې مريم په خپلی ګيډې درلوده هيله يـې درلـوده چـې حمـل يـې نارينـه وی ترڅـو د هيکـل (معبد) چوپړ وکړی او د نيکـانو څخه وی، خو کله چې حمـل دنيـا تـه راغـی د عمـران د ښـځېد تمـی برخلاف، ښځی نـه وو، چې الله جل جلالـه د ښـځينه توب سره سره هغه ومانه او صالح يې کړ.

پېغمبر عليه السلام د هغه پلار لپاره د جنت او خپل يو ځای والی زيری ورکـوي چې خپلو لوڼو سره ښـه چلند او د هغوی په روزنه ښه ښوونه کې يې هڅه او صـبر کـړی وی او د الله جـل جلالـه حـق د هغـوی پـه هکله مراعات کړي ترڅو چې لـورانې سـترې شـي يـا دا چې پخپله مړې شي لکه چې رسول الله صلی الله

عليـه وسـلم پـه يـو حـديث کـې فرمـايي: (**مــن عــال جاريتين دخلت أنا وهـو الجنـة كهـاتين و أشـار باصـبعيه السبابة والتي تليها**) **او په بل لفظ** کې (**من عال جاريتين حتى تبلغا جاء يوم القيامة أنا وهو**)( **و ضم أصابعه**).[1]

ترجمه: چا چې دوه لورانو نفقه او روزنـه ورکړه زه او هغه د دغو دوو ګوتو پـه څېـر (سبابه او وسطی سره يو ځای جنت ته ننوځو پـه بـل حديث کې لولـو: (**مـا من مسلم له ابتنان فيحسن اليهما ما صحبتاه - أو ماصحبهما- إلا أدخلتاه الجنة**).[2]

ترجمه: هر مسلمان چې دوه لورګانې ولـري او دهغـو سره، ترڅو چې ورسره وي نيکي وکړي يقينـا دغـه دواړه لورګـانې بـه هغـه جنت تـه داخـل کـړي. ځينـې حديثونــه د دي سـرګندونه کـوي چې ددغـه ثـواب وعـده هغـه ورور تـه هـم ورکـړ شـوی چـې د خپلـو

[1]- صحيح مسلم، حديث: ۲۱۳۱.

[2]- سنن ابن ماجه، حديث: ۳٦۷۰.

خوینـدو یـا دوه خوینـدو روزنـی او نفقـې تـه پاملرنـه وکړي. همدارنګ ځینې حدیثونه پدې دلالت کوي چې دغه الهی ثوابونه هغـه کسـان رانغـاړي چې لـور سره ښېګڼه وکړي آن که یوه لور هم وي.

د دی صــحیحو او ســرګندو نصوصــو او د پیغمبــر علیه السلام پرلپسـي او مؤکدو زیـرو سره نـو د لـور زیږون د پلار او ټبر لپاره د اوږو بار نه شمیرل کېږي چې ډار تری ولري او نه هم د شومتیا او شرم نښـه ده د کورنی لپاره چې په بد فال ورته وګوري بلکې لـور په اسلام کې الهي نعمت او د منني او شکر کولـو وړ ده او داسې رحمت ده چې د هغې په برکت سره د الله فضل او ثواب غوښتل کېږي د دی بحث په پـای کـې کـولای شـو پـه اسـلام کـې د ښـځې ځـایګی د پیغمبـر سـره د فـاطمې (رضـي الله عنهـا) د ځـایګی نـه ښـه

وپيژنو چې فرمايي: (**فاطمة بضعة مني، فمن أغضبها أغضبني**)[1]

فاطمه ځما د بدن يوه ټوټه غوښه ده چا چې هغه غصه کړه نو زه يې غصه کړم د حديث دغه مفهوم په بل تعبير سره هم د پيغمبر څخه نقل شوی: فاطمه ځما د بدن يوه ټوکره غوښه ده هغه څه ما خفه او غمجن کوي چې هغه خفه کړی او هغه څه ما خوشحاله کوي چې هغه خوشحاله کړي.

**۴- د ماندينی په توګه د ښځې تکريم:**

همدا شان اسلام د ښځې مرتبه د نارينه د ماندينی په څير لوړه کړی او ښځې ته يې سترشان ورکړی او رهبانيت يې باطل اعلان کړی او نارينه يې ازدواج ته هڅولي او د خاوند، ښځې پيوند يې په هستی‌کې د الله د قدرت نښه بللې: (**وَمِن آيَاتِهِ أَن**

[1]- صحيح البخاری، حديث: ٣٧١٤.

**خَلَقَ لَكُم مِّن أَنفُسِكُم أَزوَاجًا لِّتَسكُنُوا إِلَيهَا وَجَعَلَ بَينَكُم مَّوَدَّةً وَرَحمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَومٍ يَتَفَكَّرُونَ).** [1]

ژباړه: (د الله پـه قـدرت او عظمـت بانـدې دلالـت ښـوکې) يـوه ښـه دا ده چې تاسو څخه يې د ژوند ملګـرې تاسـوته پيـدا کـړي ترڅـو د هغـوی ترڅنـګ (د قلبي جاذبي او کشش په رڼا کې) هوسا اوسیء او دهغوی او تاسو تر مينځ يې مهر او محبت واچاوه (او هر يو يې پربل زړه مايللی او مين ګرځولی ترڅو په آرامي او هوساينی سره دغوړيدا او پرمختګ د هر يـو د شخصيت وګرځي او د انسـانانو د ژوند د پيوند او د هغوی جسمي او روحاني تعادل برقرار او محفوظ وي مسلما پدې کارونو کې د (الله قدرت او عظمت) ښې او دلايل شته د هغه کسانو لپاره چې (د نړۍ د شيانو او مخلوقاتو په اړه) فکر کوي.

[1]- د الروم سورت ۲۱ آيت.

پیغمبر علیه السلام ښه ښځه غوره پانګه ګڼی چې نارینه یې په دنیا کې لري او همدغه صالحه ښځه د خاوند د نیکمرغۍ یو لامل حسابوي په یو حدیث کې پیغمبر علیه السلام عمر (رضي الله عنه) ته په وینا کې فرمایلي دي **(ألآ أخبرك بخير ما يكنز المرء؟ المرأة الصالحة إذ انظر إليها سرته و إذا أمرها أطاعته و إذا غاب عنها حفظته)** .[1]

ترجمه: آیا تا د نارینه په ډیره غوره پانګې باندې خبر نکړم خپل ځان لپاره یې ذخیره کوي؟ دغه خزانه د هغه صالحه ښځه ده کله چې ورته وګوری نو خوشحاله یې کړی او چې امر ورته وکړی اطاعت یې وکړی او کله چې خاوند له کوره لرې وي دهغه د مال، کور، اولادونو، عزت او پت څخه ساتنه وکړي.

[1]- سنن أبي داود، حديث: ١٦٦٦.

په بل حديث کې فرمايلي دي: (الدنيا متاع وخير متاعها المراة الصالحة).[1]

ترجمه: دنيا ټوله متاع ده خو ډيره ښه متاع يې ښه ښځه ده همدا شان فرمايي: (من رزقه الله امرأة صالحة فقد أعانه على شطر دينه فليتق الله فى الشطر الثاني).[2]

معنا: چاته چې الله جل جلاله نيکه ښځه ورکړه يقينا دهغه سره يې د نيم دين په ساتنه کې مرسته وکړه نو د پاتی نيمايې دين په ساتنه کې د الله جل جلاله نه وډار شي په بل حديث کې راغلي دي: (من سعادة ابن آدم ثلاثة و من شقاوة ابن آدم ثلاثة من سعادة ابن آدم: المرأة الصالحة والمسكن الصالح والمركب الصالح ومن شقوة ابن آدم المرأة السوء،والمسكن السوء والمركب السوء).[3]

---

[1]- مسند الشهاب لمحمد بن سلامة القضاعي حديث: ١٢٦٤.

[2]- المعجم الأوسط، حديث: ٩٧٢.

[3]- مسند الامام احمد، حديث: ١٤٤٥.

ترجمـه: د انسـان د نیکمرغـۍ درې (څیزونـه) دي او دارنګه د انسان د بدمرغۍ څخه درې (څیزونه) دي چې د انسان نیك مرغۍ څخه ښه ښځه، ښـه کور او ښه سپرلۍ او د بد مرغۍ د انسان څخه بـده ښځه، بدکور او بده سپرلۍ ده).

اسلام د دې تر څنګ چې د ښځې تکریم کوي یـو لړ حقونـه یـې د خاونـد او ښـځې لپـاره ټـاکلي دی او خاوند اړباسي چې هغه ترسره کړي لکـه: مهـر چې د ښـځې سـره د خاونـد د ارادې او رغبـت سـرګندوي دی، قرآن کریم فرمـايي: (**وَآتُوا النِّسَـاء صَـدُقَاتِهِنَّ نِحلَـةً فَإِن طِبنَ لَكُمْ عَن شَيءٍ مِّنْهُ نَفسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا**). [1]

ترجمه: او د ښځو مهرونه د خالصې او فرضې الهـي ډالۍ په توګه ورکړئ نو کچېرې یې په خپله خوښه د

---

[1]- د النساء سورت ٤ آیت.

خپل مهر نه څه تاسو تـه دروبښـي (هغـه ترلاسـه کړئ او) حلال او خواږ يې وخورئ.
نحله: په عربي ژبه کې د عطيـه او هديـه په معنـا ده نـه پـه معنـا د ارزښت او قيمـت چـې خاونـد يـې د جنسـي ګټـو اخسـتلو پـه مقابـل کـې ښـځېته ورکـړي همغه چې ځينی خلك تبليغ او خپراوی کوي.
د ښځې يو حق په خاوند باندې د نفقې ورکـړه او ښـه چلند ده ورسره چې پـه فقهـي کتـابونو کـې مفصـل بحث لري.
بايد زياتـه کړو چې د اسلام مقدس قـانون د ښـځې شخصيت په واده سره د نارينه په شخصيت کې ندی ذوب کـړی لکـه څنګـه چې: د غـرب پـه فرهنګ کـې معمـول دی چـې ښـځه د خاونـد تـابع ګرځـي او نـور ښځه د خپلی کورنۍ په نوم، نسب او لقب نه پيژندل کېږي بلکې د فلان سړي د ماندينۍ په نوم پيژانداى شي، خو په اسلام کې د ښځې د شخصيت تشخص

او استقلال د واده نه وروسته د پخوا په شان ساتلى دى د همـدې املـه مـونږ د پيغمبـر عليـه السـلام ماندينې په خپلو نومونو او نسبونو سره پيژنو .
مـثلا: خديجه بنت خويلد ، عائشـه بنت ابى بكـر ، حفصه بنت عمر ، ام حبيبه بنت ابو سفيان، صفيه بنت حيى او نـور رضي الله عـنهن همداشان په واده سره د ښځې مدنى شخصيت په اسلام كې كمښت نه مومي او نه هم ښځه خپل اهليت دعقودو، معاملاتو او نورو مالي تصرفاتو كې له لاسه وركوي، نو ښـځه كـولاى شـي د واده وروستـه پـه مسـتقل ډول پيـرل او پيرودل وكړي په خپلو ملكيتونو كې تصرف وكړي او د خپلې شتمنۍ نه وركړه او صدقه وكړي، وكيـل ونيسي او دعوا وكړي او داسې نور معاملات.

# ښځو تعليم او تحصيل د اسلام له نظره

الحمد لله رب العالمين و الصلاة والسلام علي محمد و آله و أصحابه أجمعين.

## اما بعد!

## دعلم فضيلت د قرآن کريم له نظره:

**الله تعالى په قران کـريم کـې فرمـايی أعـوذ بـالله مـن الشـيطان الـرجيم بسـم الله الـرحمن الـرحيم: ( يَرْفَـعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّـذِينَ أُوتُـوا الْعِلْـمَ دَرَجَـاتٍ وَاللَّهُ بِمَـا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ).[1]**

ژباړه : (الله تعالى لوړوي درجات د هغو کسانو له تاسونه چې ايمان يې راوړی او د هغو کسانو درجات چې علم ورکړل شويدی او الله په هغه څه چې تاسې يي کوی پوره خبر دی) همدا رنګه الله

---

[1]- د المجادلې سورت ۱۱ آيت.

تعالی فرمايي: (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ).[1]

ژباړه ( ورتـه ووايـه ، آيـا هغـه كسـان چې پـوهيږي د هغــو كســانو سـره برابـر دي چــې نــه پــوهيږی) او فرمايي: (انما يخشي الله من عباده العلماء) [2]

ژباړه : (په يقين سره علماء د الله جل جلالـه نـه ډيـر ويريږي).

(اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَـقَ الْإِنسَـانَ مِـنْ عَلَـقٍ اقْـرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ).[3]

ژباړه : (ووايه د الله په نامـه هغـه چې مخلوقـات يـې پيداكړل ، پيدايې كړ انسان د تړل شویويني نه ، ولوله او ستارب كريم دی هغـه ذات چې پـه قلـم يـې

[1]- د الزمر صورت ۹ آيت.

[2]- د الزمر سورت ۹ آيت.

[3]- د العلق سورت ۱-۵ آيت.

ښوونه ورکړه ، ورويې ښوول انسـان تـه هغـه څـه چې نه ورباندې پوهيده). دا رنګه الله پاك فرمايي:

(وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَـيرٌ لِّمَـنْ آمَـنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ) [1]

ژباړه :(او هغو کسـانو چې ورتـه علـم ورکـړل شـوی ؤ وويل : افسوس دی تاسو لره، د الله ثواب د هغـه چا لپاره چې ايمان يی راوړی او نيـك عملونـه يې کـړي غـوره دی ، خـو هغـه يـوازې صـابران تـر لاسـه کـولی شي.

## د نبوی احاديثو په رڼا کې د علم فضيلت :

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ( **مـن يـرد الله به خيراً يفقهه فى الدين وإنما العلم بالتعلم**).[2]

ژباړه : د چا لپاره چې الله پـاك د خيـر اراده کـړې وي نو هغه په دين کې فقيـه وګرځـوي او علـم پـه تعلـم او

---

[1]- د القصص سورت ۸۰ آيت.

[2]- صحيح البخارى، ج ۱، ص ۱٦ د پيښاور چاپ دوه ټوکيي.

زده کړی سره لاسته راځي ( **مـن لم يفقـه لم يبـال بـه** )[1] ځوك چې علـم او فقاهـت نـه حاصلوي نـو اعتنـاء او توجه به نه ورتـه کېږي .

**عن أبي موسى رضي الله عنه قال: قال رسـول الله صـلى الله عليه وسلم: (يبعث الله تعالى العباد يوم القيمة ثم يميـز العلماء فيقول يا معشـر العلماء إني لم أضع فـيكم علمـي لأعذبكم ،اذهبوا فقد غفرت لكم ).**[2]

ژباړه : له حضرت ابو موسى رضى الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمـايلي : د قيامـت پـه ورځ بـه الله تعـالى ټـول راژونـدی کـوي وروسته بيـا علمـاء جداکوي او وايـي : ای د علمـا ؤ ډلـې مـا تاسو منځ کې علـم د دي لپـاره نـه ؤ ايښی چې تاسو ته عذاب درکړم ، ولاړشی ما تاسوته بښـنه وکړه . او همدا رنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم

[1]- الترغيب والترهيب، للمنذري، ج ١ ، ص ٥٠ د حقانيه كتابخانه چاپ.
[2]- المعجم الأوسط، حديث ٤٢٦٤.

فرمايلي : ( **نضر الله امرءاً سمع مقالتي فوعاها ثم أداها كما سمعها** ) . [1]

ژباړه : (الله پاك يي د تازه او خوشبخته ولرى هغه كس چې زما خبري يې واوريدى ، ښې يي حفظ كړي او بيا يي هغه چاته ورسولي چې اوريدلي يې ندي). مصطفى العدوى په أحكام النساء نومې كتاب ۴ ټوك باب حث النساء على طلب العلم ۶۲۷ پاڼه كې وايي : (**و هذه النصوص عامة يدخل فيها الرجال و النساء**).

ژباړه : يعنى ذكر شوى نصوص هغه آيتونه او حديثونه چې د علم فضيلت په برخه كې ذكر شول ، عام نصوص دى چې ښځو او نارينه وته شاميليږي . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : (**طلب العلم فريضة على كل مسلم** ). [2]

---

[1]- شرح مشكل الأثار للامام الطحاوي، حديث: ١٦٥١.

[2]- سنن ابن ماجه، حديث: ٢٢٤.

یعنـی د علـم حاصـلولو پـه هـر مسـلمان نارینـه او ښځینه باندې فـرض دی . پـه پورتني مبارك حدیث کې د ( مسـلم) کلمـه عامـه ده چې نارینـه او ښـځینه وو تـه شـاملیږي ، کـه چېرې نومـوړی حدیث یـوازې نارینـه وتـه شـامل شـي نـو پـه ښـځو بـه د ضـروري علومـو زده کـړه لکـه د لمانځـه ،روژې ، زکـات ، او نور فرض نه وه ، پداسې حال کې چې د دغـو دیني ضروریاتو علومو زده کړه په دواړو یو شان فـرض ده او هیڅوك ورڅخه انکار نشي کولی.

ابن حزم وایي : پـه هـره مسـلمانه ښځه بانـدې فـرض دی هر هغـه څه چې د دې دیـن پـوری ارتبـاط لـري ، باید زده یې کړي لکه چې پـه نارینـه ؤ بانـدې فـرض دی ، نو په عاقله او بالغه ښځه باندې فرض ده چې د لمانځـه ، حـیض ، نفـاس، روژې د ژونـد آداب ، معاشرتي آداب ، که مالداره وي د زکـات مسـایل ، کـه حـج وربانـدې فـرض وي ، د حـج مسـایل او هغـه علـوم چې د دې د حا ل پـورې تـړاو لـري ، زده کـړي

همدا رنګه ورته فرض ده څو د حلالـو او حرامـو ټول اړوند مسایل زده کړي.

حضرت عایشه رضی الله عنها وایي :( **نعم النساء نساء الأنصار لم يمنعهن الحياء أن يتفقهن فی الدين** ). [1]

ژباړه : ښې ښځې، د انصارو د مدینې اوسیدونکې ښځې دي چې شرم کول یې ددې نه منع کوي نه، چې په دین کې فقاهت او معلومات ترلاسه کړي .

**عن زينب أم سلمة قالت : جاءت أم سليم إلـى رسـول الله صلى الله عليه وسلم فقالت يا رسول الله: إن الله لايستحيي من الحق ، فهل على امراة مـن غسـل إذا احتلمـت؟ قـال النبي صلى الله عليه وسلم: نعم إذا رأت المـاء ، فغطـت أم سلمة تعنـي وجههـا و قالـت: يـا رسـول الله و تحـتلم (أو تحـتلم) المـرأة ؟ قـال : نعـم تربـت يمينـك فـيم يشـبهها ولدها).** [2]

[1]- صحيح البخاری ، حديث: ۱۲۹.

[2]- صحيح البخاری، حديث: ۱۳۰.

ژباړه : زينب بنت ام سلمة رضي الله عنهما روايت كـوى ام سـليم رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم تـه راغله او وى ويـل ، اى د الله رسوله : الله پـاك د حق ويلو نه حيانه كوي، كه چېرې ښځې ته احـتلام پـيښ شي نـو غسـل وربانـدې لازميـږى ؟ رسـول الله صـلى الله عليه وسلم و فرمايل : هو ، كله چې اوبـه ووينـي ، ام سلمه رضي الله عنها د رسول الله نـه مـخ پټ كـړ او ويـي ويـل : اى د الله رسـول ! آيـا ښـځه هـم احـتلام كېـږي؟ رسـول الله وفرمايـل ، خـواره مـه شـىء ! كـه چېـرې احـتلام نشـي، نـو څرنګـه ماشـوم يـي خپلـې مورته ورته وي؟

**(عن أم كثير يزيد الأنصارية قالت : دخلت أنا وأختي علـى النبي صلى الله عليه وسلم فقلـت لـه: إن أختـي تريـد أن تسألك عن شيء وهي تستحيي، قال : فاسأل، فان طلـب العلم فريضة) .[1]**

[1]-الإصابة في تمييز الصحابة لأحمد بن علي العسقلاني، حديث : ١٢٢١٦.

ژبـاړه : ام کثیـر بنـت یزیـد انصـاریه وایـی : زه او خورمې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلو او ورته می وویل : خورمې غواړي څه درنـه وپوښـتي ، رسول الله صلی الله علیـه وسلم و فرمایـل : پوښـتنه وکړه ځکه د علم زده کول فرض دي.

لـه پورتینـو روایـاتو نـه معلـومیږي چـې زده کـړه او دیني مسایلو زده کول په ښځو فـرض دی او بایـد پـه هرډول چې وي ښـځې د علومـو ، معـارفو حاصلولو خصوصاً هغه مسایل چې روزمره ورته ضرورت لـری هڅه وکړي، لکن شرعي حجاب ته دې پوره پاملرنـه کوي. یـوه ښـځه رسـول الله صلی الله علیـه وسلم تـه راغله او ورته یې وویل : ای د الله رسوله ! نارینـه لـه تانه علم زده کوی نو پدې برخه کې زمـوږ نـه مخکـې شـول او مـوږ ښـځې وروسـته پاتـه یـو ، نومـوږ تـه هم یـوه ورځ وټاکـه څـو سـتانه علـم زده کـړو ، رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم ورتـه یـوه ورځ وټاکلـه او بیـا ټولی ښـځې پـه هماغـه ټاکـل شـوی ځـای کـې سـره را ټولیدلی او رسـول الله صلی الله علیـه وسلم بـه ورتـه

وعظ او تبليغ کاوه او دوی به يې له ديني مسايلو خبرولي.

## ښځوته د دعا تعليم:

عن أسماء بنت عميس رضي الله عنهما قالت : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ( **ألا أعلمك كلمات تقولينها عندالكرب ؟ الله ، الله ربي لا أشرك به شيئًا**) .[1]

ژباړه : اسماء بنت عميس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايی : آيا داسې کلمات درته ونه ښايم چې د سختی په وخت کې يي وايي: **هغه دادي: (الله، الله ربي لا أشرك به شيئا)** الله زما رب دي ، د هغه سره هيڅ شريك نه نيسم.

[1]- سنن أبي داود حديث: ١٥٢٧.

## د ښځو پوښتني د دوی د دين په اړوند:

**(عن أبن عباس رضي الله عنهما أن امرأة رفعت الى رسـول الله صلى الله عليه وسلم صبيا فقالت : ألهـذا حـج ؟ قـال : نعم و لك أجر ).**[1]

ژباړه : له ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت شوی چې يـوې ښـځې د حـج مراسـمو پـر مهال خپـل زوی رسول الله ته را پورتـه کړ او پوښـتنه يې وکړه آيا پـه دغه ماشوم هم حج شته ؟ رسول الله صلی الله عليـه وسـلم وفرمايـل : هـوکې، او تاتـه يـې اجـر درکـول کيږي.

## د دينـي او علمـي مســايلو اړونـد د ښــځو پوښتنه :

امام بخاري لـه حضرت عايشې رضي الله عنهـا پـه روايـت ليکـي چې هغې فرمايلي: فاطمـه بنت أبي حبيش رسـول الله صلی الله عليـه وسلم تـه راغلـه او

[1]- صحيح مسلم ، حديث: ١٣٣٦.

پوښتنه یی وکړه ، ویی ویل : ای د الله پیغمبره: زه داسې یوه ښځه یم چې د حیض ناروغۍ پرته نوره ناروغي هم وینم او نه پاکېږم ، آیا لمونځ پرېږدم رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : هغه ناروغي چې وینی ، حیض ندی ، کله چې حیض وینې نو لمونځ مه اداء کوه او کله چې حیض ختم شو ، نو غسل وکړه او ځان پاك او لمونځ وکړه .[1]

[1]- صحیح البخاري، حدیث: ۲۲۸.

## ښځې د نارینه ؤ په څیر باید علم نشر او خور کړي :

ښځې هم باید د نارینه ؤ په شان دیني علومو په خپرولو او ترویجولو کې هڅه وکړي ، علوم زده او نورو ته یې ورسوي او دعلم له فیوضاتو او خپرولو څخه یې ګټه واخلي او نور له دغه زیور څخه برخمن وګرځوي ، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي : **(وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيراً)**.[1]

ژباړه : یادې د کړي ( ښځې) پخپلو کورونو کې هغه څه چې تلاوت یې کیږي د قران کریم له آیتونو او نبوي احادیثو نه په یقین سره الله تعالی مهربان او با خبره ذات دی.

الله تعالی په پورتنی مبارك آیت کې ښځې وعظ او نصیحت ته امر کړی او دوی ته لارښوونه کوي چې نورو ته د علم او نصیحت په رسولو کې لکه نارینه

[1]- د الأحزاب سورت ٣٤ آیت.

داسې هڅه وکړي او پرې نږدي چې پخپله دوی او نور کسان او د کورنۍ خلك يې د ناپوهۍ په تياره کې پاته شي ، ښکاره ده چې ښځه هغه مهال پخپل کور او له کوره بهر وعظ ، تبليغ او دين رسونه کولای شي چې لومړی پخپله پدغه زيور ښايسته يعنې لومړی پخپله څه زده او بيايې بل ته وښي.

## د نارينه لخوا ښځوته د وعظ او تعليم حکم:

که چيرې ښوونکې او متخصصې ښځې پيدا يشي چې ښځوته درس ورکړي ، نو نارينه هم کولی شي چې ښځوته تعليم ، وعظ او تبليغ وکړي امام بخاری له جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت کوی ، فرمايي : ( **قام النبي** صلى الله عليه وسلم **يوم الفطر فصلى فبدأ بالصلاة ثم خطب ، فلما فرغ نزل فأتى النساء فذكرهن و هو يتوكأ على يد بلال و بلال باسط ثوبه يلقى فيه النساء الصدقة** ) [1]

[1]- صحيح البخاري، حديث: ٩٧٨.

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوچنی اختر په ورځ د اختر لمونځ اداء کړ او په خطبه ويلو باندې يې پيل وکړ ، کله چې د موعظې نه خلاص شو نو له منبره راښکته او ښځو لور ته يې تشريف راوړ او دوی ته يې هم وعظ او نصيحت وکړ پداسې حال کې چې په حضرت بلال باندې يې تکيه کړې وه او بلال خپل څادر غوړولی ؤ او ښځو په هغه کې صدقات اچوله.

د ذکر شوی مبارك حديث نه هدف چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپل مبارك وجود سره د ښځو منځته حضور پيداکړ او هغوی ته يې وعظ او تبليغ وکړ ، ترڅو د هغه مبارك وينا په ښځو باندې اثر وکړ او ټولې صدقې ورکولو ته تيارې شوي.

## د ښځو ليکنه او دم دعا:

**(عن الشفاء رضی الله عنها مرفوعا: ألا تعلمين هذه (حفصة) رقية النملة كما علمتها الكتابة)**[1]

ژباړه: د شفاء رضی الله تعالی عنها څخه روايت دی چي رسول صلی الله عليه وسلم دې ته وويل: ولې دې حفصه ته د نمل دم او دعا ندی ښودلي څرنګه چې د دېته ليکنه ورښودلي ده.

## د ښځو د تعليم او تحصيل ضرورت:

دا په تجربه سره ثابته شوی چې يوازې د نارينه پوهاوی په ديني او دنيايي چاروکې د ټولنې ستونزې نشي حل کولی او دا يوازې بسنه نکوي، ځکه په هره کورنۍ کې ممکنه نده چې نارينه عالم د شتون ولری او په ځينو کورنيوکې د يوه عالم وجود مؤثر او يا کافی نه وي او ښځې نشي کولی په ځينو حالاتو کې له پلاره ، وروره او يا هم تره نه

[1]- سنن أبي داود، حديث: ۳۸۸۹.

ځيني پوښتنی مطرح کړي ،نو دلته ده چې دښځو تعليم او تحصيل ته ضرورت ليدل کېږي ، نو پدې اساس په آسانۍ سره کولای شي ، ديني او علمي ارزښتونه او علوم د کورنۍ نوروغړو په ځانګړی توګه نجونو ته ورسوي. نو پدې اساس د ښځو د تعليمي او تحصيلي اهدافو نه په ټولنه کې ، دتحصيل او تعليم پراختيا ، دکورنۍ د غړو ديني او علمي کچه لوړول ، ديني ضرورتونو پوره کول ، په ټولنيزو مخلتفو برخوکې د ، حقوقي ، تعليمي ، تربيتي او صحي ضرورتونه پوره کول . د اسلام مقدس دين په هيڅ عنوان سره د ښځو د تعليم او تحصيل مخالفت نکوي پدې شرط سره چې د پورتنيو اهدافو پر اساس وي.

## د ښځو د تحصیل اصول :

د ښــځو د تحصــیل اړونــد بایــد لانــدې ضــوابط او شرایط مراعات شی :

١ – د تـدریس پـر مهال د نارینـه او ښـځینه تـر مـنځ جلا والی.

٢ – د لارو په اوږ دوکې د شرعی حجاب مراعاتول.

٣ – پـه لـومړي ګـام کـې د ښــځه ، ښــځېته تعلــیم ورکړي.

۴ – د تحصـیل وتلـو لپـاره د سرپرست نـه اجازه تـر لاسه کړي که چېرې میړه ولري نو د میړه په اجازه بـه دا کارکوي.

۵ – له کوره دوتلو او بیرته راتـګ پـر مهال یـې بایـد ځان او عزت په امن وي.

۶ – د تــګ او راتــګ اســانتیاوي ترانسپورتیشــن ورته برابر وی

**داسلامي تعاليمو په رڼا کې د ښځو د تحصيل او تعليم اهداف په لاندې ډول دي :**

الف : د هغې فريضې اداء کول چې د شريعت له طرفه ورته متوجه ده يعنې د علم زده کړه پخپله فرض ده او په زده کړه سره يې الهي فرض اداء کيږي.

ب : له جهالت او ناپوهۍ نه چې د انسان د هلاکت لامل گرزي ، ليرې والی.

ج : د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارکو لارښوونو مطابق په اسلامي اخلاقو مزين کېدل .

د : د اسلامي شريعت لارښوونو مطابق د ديني او دنيوي چارو پرمخ بيول.

ه : په ښه توگه سره د اولادنو روزل.

و : د فرايضو او واجباتو پيژندل او وربانـدې عمل کول او حرامو پيژندل او ورڅخه ډډه کول.

ز : بــالآخره د الله تعــالى پيژنــد ګلــوى او د دارينــو نيکمرغـــي حاصــلول اونوروتـــه د بريـــاليتوب لاره ښوول.

## په افغانستان کې د ښځو د تعليم او تحصيل پر مهال حقوقي موانع او دهغې بدى پايلې:

پدې کې شك نشته ځومره چې د علم زده کړه فايدې او ګټې لـري ، بى علمي او جهـل پـه هماغـه اندازه قباحت او بدى له خپل ځان سره لـري ، پـه هره ټولنه کې چې هره بدبختي ليدل کېږى ،منشأ يې ناپوهي او جهل دى چې انسان بدبختۍ او شقاوت ته رسوي او دا سـبب کېـږي چـې حقـوق الله او حقـوق العبـاد ضايع شي.

د تحصـيل او تعلـيم نـه ممانعـت پـه ټولنـه کـې پـه اخلاقـي ، ديانـت ، اقتصـاد او پرمختيـا برخـو کـې ضـرر رسـوي ، ليـدل کېـږي پـه کومـه ټولنـه کې چې علماء او پوهان که نارينه وي يا ښځينه موجود وي نو هغه ټولنه به له اخلاقي او ديني لحاظ پرمختللى

وي او که چېرى په يوه ټولنه کې عـالم کـه نارينـه وي يا ښځينه وجود ونلري نـو ټـولنيز نظـام يـې خرابيـږي او د بدبختی او شقاوت لورتـه ځـي او اکثـراً دارنګـه کورنۍ د اخلاقو او آدابونه ليـری پـاتيږي يـو دبـل پـه وړانــدې د مســؤليت احســاس او ژونــد د شــريعت مطابق پرمخ نه ځي.

## د ښځو لپاره د عصري او دنيوي علومو زده کړې حکم :

د اسلام مقدس دين ښځې پـه مطلقـه توګـه د دنيـوي او عصري علومو د زده کړې نـه نـدی منـع کـړی ، پـه ځينـو حـالاتو کـې کـه ښـځې د عصـری علومـو د زده کـړی نـه منعـه شـوی پـدی غـرض نـدی چـې د ښـځې طبيعـت عصـري علومـو تـه نـدی عيـار شـوی او ياښـځې نشـي کـولی چـې عصـری علـوم زده کـړي ، بلکه د خارجی عوارضو او يا هم د ښځو د مصلحت په غرض دا کار وي. کـه چېـرې ښـځې عصـری علوم زده کري او دينی ضروري زده کـړی پـه عصـری زده

کړو باندی مقدمې ګرزوی او دعصري علومو زده کړی پر مهال یی ځان ، مال عزت او آبرو ته څه خطر متوجه نه وي ، پداسی حالاتو کې ښځې کولای شی ، عصری علوم زده کړي ، لکه طبي زده کړې ، دایه توب ، خیاطي او نور داسی علوم چې د حلال رزق په لاسته راوړلو کې رول لوبوي.

په مجموعي توګه د ټولو هغو عصری علومو زده کړه چې دښځې د اصل او فطرت سره کوم تضاد ونلري ، ښځه کولی شي هغه زده کړي ، او هغه علوم چې دښځې د اصل او فطرت سره مناسب نه دي ، لازمه نده چې هغه ښځه زده کړي ، لکه د موټرو د تخنیك ، ګلکاری او نور ، نو باید نظامونه او حکومتونه بنسټونه دښځو د دیني او عصري علومو زده کړې لپاره زمینه برابره کړي ، تعلیمي او تحصیلي موسسې اوبنسټونه جوړ کړي ، څو ښځې په آسانۍ اوپرته له کوم تشویش نه عصري او دیني زده کړي وکړي.

# د ښځې حقوق او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي حرمت

**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله و على آله و أصحابه أجمعين، أما بعد! قال الله تعالى أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: ( يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاء ).[1]**

ژباړه : ای خلکو ! د الله نه وويرېږئ هغه ذات چې تاسی يې د يوه نفس څخه را پيدا او له هغه څخه يې ورته د ژوند ملګرى خلق کړه او بيا وروسته له دوى دواړونه ډير نارينه ښځينه تيت کړل.

د اسلام شهيدانو روح ته په درود ويلو، ورونو او خويندو ! له هرڅه نه مخکې خپل ځان او تاسوته په تقوا باندې توصيه کوم زموږ د بحث ننۍ موضوع د اسلام له نظره د ښځو حقوق دي ، نو ولی می دغه

[1]- د النساء سورت ۱ آيت.

موضوع انتخاب کړه ؟ او پدې اړوند زمـوږ پـه ټولنـه کـې څـه سـتونزې موجـودې دي ؟ او د اسـلام مبـین دین ښځوته په کومو حقوقو قایل شوی ؟ آیا موږ د مسلمانانو پـه توګـه د غـه حقـوق رعیـت کړی! یانـه؟ دارنګه او دغه ته ورته نوری ډیری پوښتنې دي چې زموږ او ستاسی ذهنونه یی مشغول کړي ، او پدې اړه ستونزی هم شتون لري پداسې حال کې چې ټول پوهیږئ! اسلام د یوه کامل او جامع دین پـه توګـه د نارینـه او ښـځې تـر منځ د خلقت او نیکـو اعمـالو اجراء کولو پـه اړونـد فـرق نـدي کـړی ، الله تعـالی د نحل سورت پـه ۹۷ آیت کې دارنګـه فرمـایي: (مَـنْ **عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَـا كَـانُواْ يَعْمَلُـونَ**) .[1] (ژبـاړه : څوك چـې نیـك کـاروکړی کـه نارینـه وی یـا ښـځینه پداسی حال کې چې هغـه مـومن وی، نـو خامخـا بـه هغـه تـه پـاك ژونـد ورپـه برخـه کړو او بدلـه بـه یـې تـر

[1]- د النحل سورت ۹۷ آیت.

هغو نيکو عملونو نه ښه ورکړو چې دوی تر سره کړيدي).

نو اسلام د ښځو په وړاندې هيڅ تبعيض نه غواړي او ټول هغه حقوق چې نارينه لپاره يې په رسميت پيژني د هغه توپير په نظر کې نيولو سره چې د حکمت او مصلحت غوښتنه ده ، دښځو لپاره هم په رسميت پيژندلي دي او موږ هغه مهال په دغه موضوع باندې پوره پوهيږو چې د جهالت يا د اسلام نه مخکې دورې باندې نظر واچوو ، مخکې لدې چې بحث ته ورداخل شو ، لومړی به د حق او حقوق تعريف وکړو :

په لغت کې د حق تعريف: حق په لغت کې رښتيا او صحيح ته وايي ، د باطل ضد ، د هر کار ثابت او واجب چې البته واقع شي ، همدا رنګه په معنی د يقين ، عدل

، نصـيب برخـه ديـوه شـي ، مـال او ملـك نـه هـم، استعمال شويدى .[1]

## د حق اصطلاحي تعريف:

**۱- دفقـي پـه اصـطلاح کـې** : حـق پـه فقـه پـه دوو معناوو راغلی : يو حق د حکم په مقابل کې ، پدې معنـی سـره چـې پـه قـانون کـې هغـه چـارې چـې وړاندوينه يې شوی وي چې شـخص وکـولای پخپـل قصد سره ځينې د هغی تغييرکړي ، دغـه کارونـه چې د تغيير وړدي ، ورته حق ويل کيږی .

دوهـم : حـق پـه معنـا د مـال ديـوی نـوعی دی چـې عين،دين ،منفعت او انتفاع په مقابل کې وی.[2]

---

[1]- د (عميد حسن فرهنگ عميد تهران، انتشارات امير كبير) کتاب ثخه، ۱۳۷۱.

[2]- د(جعفرى لنگرودي، محمد جعفر ترمينالوژى حقوق) کتاب ثخه.

## ۲- د حقوقو په اصطلاح کې :

حق یو قدرت دی چې هر هیواد یې خلکوته ورکوي څو د ما ل نه په مستقیمه توګه ګټه واخلی او یا د مال انتقال او یا دیو کارکړل له نورونه وغواړي . [1]

دحقوقـو تعریـف : لـه حقوقونـه مختلـف تعریفونـه شویدی چې موږ یو ورڅخه یادوو هغه چې زموږ په بحث پورې تړاو لري : دخلکو داړیکو د تنظیم او په ټولنه کې دښه نظم جوړونی په موخه حکومت د هر چا لپاره یو لړ اختیارات د نورو په وړاندې پیژني او هغوته خاص توان ورکوی ، دغه توانایي او امتیاز ته حق ویل کیږی چې جمع یی : حقوق دي ، پدې توګه سره له حقوقونه فردي حقوق هم اخیستل شویدي لکه د ژوند حق ، د مالکیت حق ، د کاراوکسب دآزادی حق او..... او ځینې ددغو

---

[1]- د(فاطمه فهیمی، حقوق مالی زن، ص: ۱۲ ) کتاب څخه.

حقوقونه د بشر د حقوقو تر عنوان لاندې د حمایت ورکړل کېږي.[1]

د حقوقو مبنا هم عرف ، شریعت او قضایي رویه ده چې په اسلامي هېوادونو کې د حقوقو مبنا اکثرا اسلامي شریعت دی.

## دښځو د حقوقو تاریخي لړلید :

ښځې په مختلفو تاریخي دوروکې د رنګارنګ ظلمونو اوکړاوونو سره مخامخ شوي ، بده به نه وي چې په مختلفو ټولنو کې د ښځو وضعیت ته ځغلنده کتنه وکړو.

## ١- یونان :

یونان د ډېرو پخوانیو تمدنونوڅخه دی چې پر بشري ټولنې پراختیا کې یې مهمه ونډه اخستلې ، خو ښځې په هغه ټولنه کې واقعاً دیر مظلومې او

[1]- همدغه مرجع.

محرومې وي ، هغو قرار داد ، تړون دانعقاد حق نه درلود ، په قضا کې محکمه کې د دعوا اقامه هم ورته ناممکن ۀ دمیړه تر مرګ وروسته یې د میراث حق نه درلود.

## ۲- پخوانی روم :

رومي ښځه د کنیزي په ډیر بې ارزښته وه چې په ټولنه کې یی هیڅ قدر او منزلت نه درلود او د غلامي په ډیر به په بازارونو کې پلورل او پیرودل کېده ، دپلار او میره په وړاندې یې دمالکېت ، معاشرت او ژوند حق نه درلود.

## ۳- هند:

دمانو په قانون نامه کې د ښځې په اړوند راغلی ۀ : ښځه د بی آبرویی سرچېنه ده ، ښځه د نزاع منبع ده ، ښځه د خاورین ژوندانه سرچېنه ده نو باید د ښځې نه لري واوسو، په پخواني هند کې د پخوانیو رسومونو او رواجونو له جملی نه ساتی یا د ژوندی

سـوزولو مراسـم ؤ چـې د هغـې پراسـاس د میـړه نـه وروسته به دهغه ښځه همدارنګه د میړه سره یوځای په اورکې سوځوله او یا به ژوندۍ ښخوله .[1]

**۴- پخوانی ایران** : ښځو په ساساني امپراطورۍ کې حقوقي شخصیت نه درلـود او یـوازې د یـوه شـی په څیر به فرض کېده ، هغې یوازې کولای شول یـا د چا مال او یا د چا حق وګرزي.

## ۵- د اسلام نه مخکې د ښځو وضعیت:

ښځه د اسلام نه مخکې او د جاهلیت په زمانـه کـې خواره او سپکه وه ، عربو بـه هغـه دعیـب ، ذلـت، او ننګ منشأ بلله ، کله بـه چـې د کـورنی پـلار تـه خبر رسیده چې په کورکې د لور زیږیدلي، نـو ښـه بـه یـې لـه ډیـر قـاره تکـه تـوره شـوه ، لـه ځان سره بـه یـې دا فکر کاوه چې یا خوبه دغه لور په خوارۍ سره ساتم

---

[1]- د(فاطمه فهیمی، حقوق مالی زن، ص ١٦) کتاب څخه.

او یا خوبه یې په خاوروکې پټوم ، قرآن کریم دغه حالت دارنګه بیانوي :

**(یَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُـونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاء مَا يَحْكُمُونَ)**[1]

ژباړه : او کله به چې یو ددوی ته زیری ورکړل شو چې لور د زیږیدلي ده نو مخ به یې تور ګرځیده او ډیر په غمجن او په قاریده، د خلکو نه به یې ځان پټاوه ، له ځان سره بی یې فکر کاو او سرګردانه به ؤ چې یا خو دا لور په سپکاوی او خواری سره وساتي او یائې هم په خاوروکې ژوندی ښخوي خبر اوسیء چې ډیره بده پریکړه به یې کوله .

جاهلیت داسې یوه د تورتم دوره وه چې علم او عقل حاکمیت نه درلود ، دښځو په وړاندې ظلم او جنایت دومره اوج ته رسیدلی ؤ چې حتی ددغه لطیف او نازنین مخلوق نه یې د ژوند حق هم

[1]- د النحل سورت ٥٩ آیت.

اخستلو قران کريم د تکوير په سورت کې فرمايي :
( وإذا الموءدة سئلت بأي ذنب قتلت ) [1]

ژباړه : او کله چې په قبر دژوندی ښخول لورانو نه وپوښتل چې په کومه ګناه وژل شوی یاست ؟ او دغه انساني حق درنه واخستل شو ؟ یوازې ددغه ناروا او تعصب او ننګ له امله چې هسی نه چې دغه ښځې او لورانې په جنګ کې اسیرانې شي نو دسپکاوي لامل شی؟

## د ښځو حالت د اسلام ځلیدو نه وروسته :

زمانه همداسې په ظلم او وحشت کې تيريده څو الهي صبر نور په بل لور بدل شو ، او ډيره موده تيره نه شوه چې خپل نازنين استازی محمد صلی الله عليه وسلم د دغه ناخوالوله منځه وړلولپاره واستوه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بعثت ديوه انقلاب عميق هراړخيز بدلون په توګه ؤ چې د موجوده

[1]- د التکوير سورت ۹ آيت.

وضعیت او حالت د تغییر او ښځوته یې دحقـوقي او واقعـي مقـام پـه ورکولـو سره رامنځتـه شـو . داسلام مبارك دین ښـځې تـه دانسـانیت پـه سترګه وکتـل او دهغــې شخصــیت یــې د نــابودۍ او ســقوط نــه راوژغوره ، او هغـه د ټولـو حقوقـو نـه برخمنـه شوه ، اسـلام ښـځه د نارینـه پـه څیـر دکامـل انسـانی روح ، ارادي ا و اختیار نه برخمنه کړه او هغـه د تکامـل پـه مســیر کــې چــې د پیدایښــت هــدف او موخــه ده ، ګوري، ځکه دواړه یې په یوه صف کې راوستل او د ( یآ أیها الناس ) (یآ أیها الـذین آمنـوا ) خطـاب یـی ورتـه وکــړ ، د برتــرۍ معیــار یــې یــوازې تقــوا وبللــه نــه جنسیت ، قوم یا نسب ، قرآن کریم فرمایي:

**(یَا أَیُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاکُم مِّن ذَکَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَـاکُمْ شُـعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَـارَفُوا إِنَّ أَکْـرَمَکُمْ عِنـدَ اللَّهِ أَتْقَـاکُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِـیمٌ خَبِیرٌ)** [1]

[1]- د الحجرات سورت ١٣ آیت.

ژباړه : ای خلکو ! ما تاسې د یوه نارینه او ښځینه نه را پیداکړی او بیایې تاسې ډلې ډلې او قبلي قبلي وګرزولي څویو بل سره وپیژنی ، یقیناً ستاسې نه مکرم شخص د الله په وړاندې ستاسې متقي کس دی ، یقینا الله ډیر عالم او باخبره دی .

اوس موچې د ښځې اړوند د اسلام انساني او عادلانه کتنه ولیده، په ترتیب سره به هغه حقوق چې اسلامی ښځې ته ورکړي بیان کړو :

**۱- د ژوند حق :**

انسان د موجوداتو تهوکری د سرد ګل په عنوان سره د ژوند د حق نه برخمن دی ، او د نراوښځې تر منځ توبیر نشته قران کریم فرمایي : ( **ومن یقتل مؤمنا متعمداً فجزاؤه جهنم خالدا فیها** ). [1]

ژباړه : او څوك چې یو مؤمن په قصد سره ووژنی نو جزا یې جهنم دی چې دایمي به پکې پاتیږي .

[1]- د النساء سورت ۹۳ آیت.

## ۲- د ښځې د مالکيت او مالی استقلال حق:

د قرآني آيتونـو او مختلفـو روايـاتو لـه پلـوه د ښـځو مالکيت او مـالي استقلال د نارينـه و پـه څيـر دی او ددوی د حقوقو تر منځ کوم تبعيض نه ليـدل کيـږی ، قرآن کريم فرمايي :

**( للرجال نصيب مما اكتسبوا وللنساء نصيب مما اكتسبن )**. [۱]

ژباړه : د نارينه ؤ لپاره برخه ده لـه هغـو څـه نـه چې پلاس يې راوړي او دښځو لپاره برخه ده له هغـو څـه نه چې پلاس يې راوړي دغه مبارك آيت پـه صـراحت سره نارينه او ښځينه دخپلو لاسته راوړنو مالك بللی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمـايی: **( حرمة مـال المؤمن كحرمة دمه )** [۲] يعنی دمومن د مال حرمـت لکـه د وينـې پـه څيـر دی ، ددغـو او دی تـه ورتـه نـورو روايتونو په رڼا کې د نارينه او ښځې تو پير نشته او

---

۱- د النساء سورت ۳۲ آيت.

۲- سنن الدار قطني، حديث: ۹٤.

نــاس مــؤمن نارينــه او ښــځينه دوارو بانــدې اطـلاق کېږي .

## ۳- د اشتغال او کارکولو حق:

کــار د فــرد دژونــد برابرولــو ، آســودګۍ رفــاه او دمايحتاج انساني ضرورتونو پوره کولـو وسـيله ده ، داسلام حقوقي جوړښت دومره عظمت لـري کـه څـه هم پيرې تيرى شوى بيا يې هم تر ټولو مکمل حقوق خاصتاً ښځوته ورکړي ، که څه هم د اسلام لـه نظـره ښځه باندى لازمه نده خو د کورنۍ خرڅ او مصرف لګښت راپوره کړي او دښځې او اولادونـو ضرورتونه پوره کول د نفقې تر عنـوان لاندې د نارينـه مسؤليت دى سـره لـدى نـه هـم ښـځه کـولى شي او د کـار او کسـب پـه ټـاکلوکې آزاده ده چې هغـه کـار انتخـاب کړي کوم چې د کورنۍ مصالحو سره په ټکـر کې نـه

وي ،مسلمانانو لومړنۍ مور حضرت خديجه رضي الله عنها د سوداګرۍ كاروبار كاوه.[1]

## ۴- د ميراث حق :

مخكې مو ذكر كړل چې ښځه پخوا دخپلو ډيرو مالي او ټولنيز و حقوقو څخه محرومه وه ، اسلام علاوه د دې نه چې هغې ته يې انسان ، مدني او ټولنيز حقوق وركړل ، هغې ته يې نور حيثيت او وقارهم وركړ ، چې د ميراث حق دى ، ښځه د مور ، خور ، ښځې او لور په حيث په ميراث كې شريكه شوه.

الله پاك د سورة النساء اووم آيت كې فرمايي : **(للرجال نصيب مما ترك الوالدان والأقربون و للنساء نصيب مما ترك الوالدان و الأقربون مما قل منه أو كثر نصيبا مفروضا).**[2]

---

[1]- د (فاطمه فهيمى حقوق مالى زن، ص ۱۱۱) كتاب څخه.

[2]- د النساء سورت ۷ آيت.

ژباړه : دنارینه و لپاره برخه ده له هغه څه نه چې د پلار او مور او خپلوانو نه ورته پاته کېږی او د ښځو لپاره برخه ده له هغه څه نه چې د والدینو او خپلوانو نه پاتیږي ، که څه هم هغه مال کم وي یا زیات ، دغه برخه ده تاکل شوی او واجب الاداء.

## دنارینه او ښځې د میراث تفاوت په اړه یو اشکال:

د سورة النساء په ۱۱ ایت کې راځي: (**للذکر مثل خط الانثیین**)[1] د نارینه و لپاره دی دوه برابر د ښځو دبرخې نه. ) دلته یو اشکال او پوښتنه مطرح کېږي چې نارینه او ښځې تر منځ تبعیض او توپیر دی ؟

په ځواب کې باید ووایو ، که چېرې دقیق ځیرشو د اسلام حکیمانه عدالت دی او اقتصادي او مصرفی پلوه ، ښځه د نارینه ځخه ډیره برخه وړي ، ځکه ښځه خپل سهم او شتمنۍ ساتي او دمصرفولو په

[1]- د النساء سورت ۱۱ آیت.

اړه مکلفیت نلري ، خو دنارینه برخه د نفقې او د کورنۍ مصارفو په لاره کې مصرفیږي ، تاسوته به یو مثال ذکر کړم : یو پلار وفات شو او ورځخه یو زوی او یوه لور پاته شوه او شپږ لکه افغانۍ هم ورځخه میراث شوی ، څلورلکه افغانی د زوی او دولکه افغانۍ د لور شوی ، زوی واده کوي د توی او واده کولو مراسموکې یې ټولی پیسی مصرف شوی ، خو نجلۍ میړه کوي ، مهر هم اخلي او نقفه یې هم په میړه باندې ده ، نو دا هیڅ مصرف نلري.

## ۵- د وصیت حق :

د ښځو د حقوقو نه یو دادی چې کولای شي د نارینه ؤ په څیر وصیت وکړي ، د بل چا وصی شي او یایې په ګټه وصیت تر سره شي پدې اړوند د نارینه او ښځې تر منځ هیڅ تفاوت نشته.

## ۶- د نفقې حق :

یو له ډیرو مهمو حقونو څخه چې اسلام ښځو ته په نظر کې نیولی د هغې د نفقې حق دی چې د یوه تکلیف په توګه یې د نارینه ؤ په غاړه ایښي ده قرآن کریم فرمایي : (**وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لاَ تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلاَّ وُسْعَهَا**) .[1]

او په هغه چاچې زوی ورته زیږیدلی (پلار) باندې لازمه دا چې دمور خوراك او پوښاك یې په ښه توګه ورکړي او هیڅوك له خپل توان نه زیات مکلف ندی).

همدارنګه بل آیت پدی اړوند دارنګه صراحت لري : (**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّهُ**).[2]

---

[1]- د البقرې سورت ۲۳۳ آیت.

[2]- د النساء سورت ۳٤ آیت.

ژباړه : نارینه د ښځو سرپرست او ساتوونکې دي د هغه فضیلت په خاطر چې الله ځینو ته پرځینو نورو ورکړی او دهغه انفاق په خاطر چې له خپلو مالونه څخه یې د ښځو په اړه کوي ، او صالحی ښځې هغه ښځې دي چې متواضعه وي او په غیاب کې دخپل میړه هغه اسرار او حقوق چې الله ورته لازم کړي ، ساتنه کوي . علامه طباطبایي د دغه آیت په تفسیر کې (( قیم )) د ارنګه معنی کوی : قیم هغه کس دی چې دبل دمصارفو مسؤلیت لری او په هغه باندی انفاق کوي او (( قوامــون )) د مبالغې صیغه ده د (( بما انفقوا)) څخه هدف په آیت شریف کې انفاق ، مهریه او دښځو نفقه ده .

## ٧- دمهر حق:

د مهر یا مهریې کلمه عیناً په قران کریم کې نده ذکر شوی او دهغی په ځای (صداق) د صاد په فتحه یا کسره سره استعمال شوی او صداق هغه مال ته ویل کېږي چې نارینه یی د ازدواج عقد

پرمهـال ښـځې تـه ورکـوي .د سـورت نسـاء پـه څلـورم آیت کې راغلي : ( **وآتوا النساء صدقاتهن نحلة**).[1]

ژباړه : او ورکـړی ښـځوته ددوی مهرونـه د ډالـی پـه توګـه ، هغـه مهـم ټکـې چـې د دغـه مبـارك آیـت نـه استنباطیږي :

۱- مهریـه (صـداق) د نارینـه ریښـتني علاقـه د ښځې په وړاندی ښي ، ځکه صداق د صدق له مادې نه اخستل شوی.

۲- د (هـن) ضـمیر پـه ټـولـو سـره دا جوتـوي چـې مهر خپله په ښځه پوری تړاولري ، نه پلار ، مـور او ورور او مهریـه د پـلار لپـاره د لـور د لویـو پـه مقابل کې مزدوری نه ګڼل کیږي.

۳- د (نحلة) کلمه چې په آیت کې ذکر شوه ، د انکتـه روښـانه کـوي چـې مهریـه پرتـه لـه ډالـۍ ، ورکړې او عطیې نه بل مفهوم نلري او پدې سره

[1]- د النساء سورت ٤ آیت.

هغه ګومان ردوی چې مهریه د نجلۍ قیمت دی ! البتــه مهریــه اوږد بحــث لــري چــې زمــوږ لــه موضوع وتلی.

## ۸- د تعلیم او تحصیل حق :

د اسـلام لـه نظره ښـوونه او روزنـه د انسـان معنـوی کمال او الهی قرب تـه یې رسـیدل دي او پدې اړه د نارینه او ښځې تر منځ هیڅ توپیر نشته د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیـه وسلم فرمایي ( **طلـب العلـم فریضة علی کل مسلم**) . [1]

ژبـاړه: د علــم حاصـلول پــه هــر مســلمان نارینــه او ښځینه باندې فرض دي .

له بده مرغه زموږ په هیواد کې یوه ستونزه داده چې په ځینو ځایونو کې د نجونو د زده کړې مخه نیسـو او داسـلام د دومـره سـتر پیغـام نـه سـترګې پټـوو ، پداسې حال کې چې د یوې ټولنې د پرمختګ بنسټ

[1]- سنن ابن ماجه حدیث: ۲۲٤.

، ښـوونه او روزنـه ده ، کـه چېرې د نجونـو او ښـځو ښـوونې او روزنــې تــه چــې زمــوږ نيمــايي ټولنــه تشکېلوی ، همت ونکړو، څرنګه به وکولای شو چې يو پرمختللی ، متمدن او صنعتي هيواد ولرو؟!

## ۹- د ټاکلو حق :

داحـق سياسـي اړخ پـوری تـړاو لـری او همدارنګـه کېدای شي د ښځو د ژونـد ټاکلو او د شريك ژونـد انتخاب موضوع ته شامل شي د يوې ښځې لپاره تـر ټولـو مهـم او برخليـك ټـاکونکې انتخـاب هماغـه د ميړه انتخاب او ټاکل دي چې له بده مرغـه زمـوږ پـه هيـواد کـې اکثـراً دغـه کـار د والـدينو لخواتـه ترسـره کېـږي او پخپلـه نجـونې پدغـه کـارکې نـه پوښـتل کېږي ، په ښکاره سره بايد ووايو چې زيات جرايم لکه لـه کـوره تيښـته ، جنسـي جرمونـه ، ځـان وژنـه ، دبل چاوژنه ، په کـورکې د مـور لخـوا د اولادنـو وهـل ټکـول ، طلاق او ... دجبـري ودونـو او يـا مخکـې لـه وختــه و دونــو څخــه را پيــدا کېږي ، نــو ځکــه دغــه

موضوع ته پاملرنه کولای شي په هیواد کې زیاتې ټولنیزې ستونزې حل کړي ، د افغانستان مدني قانون چې له اسلامي فقهي نه اخستل شوی په (۷۰) ماده دواده موضوع کې وایي: (( د ازدواج اهلیت هغه وخت بشپړیږی چې ذکور ۱۸ او اناث ۱۶ کلنۍ پوره کړې وي )) نو د نجونو او ښځو لپاره یو له مهمو حقوقو څخه د خپل میړه د انتخاب حق دی چې په آزادۍ او خپل واك سره یې وټاکي ، خو له بده مرغه پدې اړه ډیر مشکل لرو ، په ځینو ځایونو کې ناوړه دودونه و جودلري چې غواړي د یوې ښځې په قرباني کولو او دهغې د احساساتو ، عاطفې ، شخصیت او راتلونکې ژوند تر پښولاندې کولو سره ، د وژلو او جنګونو لړۍ ته پرې دپای ټکې کیږدي همداسې دی په زور سره واده کول او یا بدل کول چې پکې د نجونو رضایت ته پاملرنه نه کیږي ، پداسې حال کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارك سیرت کې دنجونو او ښځو دغه حق کاملاً مراعات کیده او د رسول الله لورانو

هم پخپله خوښه او رضایت سره واده کړیدی ، بده به نه وي چې د ښځو بد ورکولو ناوړه دود په اړه یو څه تم شو.

## د ښځو په بدو کې ورکول:

په بدوکې ورکول د افغانستان په ځینو سیموکې یو پخوانی دود دی چې لاتر اوسه هم معمول دی او عادتا د کورنیو او یا د دوو قبیلو د جنجالونو د حل او فصل کولو په موخه کارول کېږي یوه نجلۍ د متجاوز یا قاتل له کورنی یا قبیلی لخوا متضرر لوری ته ورکول کېږي څو قناعت یی حاصل او د نور قتل او جنجال مخه ونیول شی ، بی له شکه دارنګه د تاوتر یخوالي کارونه او داسلام ضد عملونه چې د نجونو او ښځو په برخلیك لوبی کېږی د اسلامي شریعت او هیواد د نافذه قوانینو له مخې مردود دی ، دوو دلیلونو ته اشاره کوو:

۱ – قران کريم فرمايي : (ولا تزورا وازرة وزر أخرى). [۱] ژباره : هيڅوك د بل چا د ګناه پيټى پخپله اوږه نه وړي ) نو بنا پردى دغه نجلۍ څه ګناه لري چې د بل چا د جنايت قرباني شي ؟

۲ – په بدوكې دوركولو عنعنه كې اجبار او اكراه هم شتون لري ، ښځه د خپل رغبت او خوښۍ پرته د بل چا دجنايت قرباني وګرزي او دغه نكاح له بنسټه باطله دى ، ځكه دا ناوړه عمل او حرام كار دى او بايد د زوج او ميړه د ټاكلو حق په پوره آزادۍ سره ښځو ته وركړل شي . [۲]

---

[۱]- د الاسراء سورت ۱۵ آيت.

[۲]- د (اضرار عرف و عنعنه ناپسند از نظر قانون و شريعت اسلامي، ص ۲٦) كتاب څخه.

## ۱۰- سياسي او ټولنيز حقوق :

ښـځه د ظريـف ، آرام ورکـوونکې اوپـاك موجـود پـه توګه ، دمور ، خور ، لور او ماندينی په بڼه د ټولنې په بشـپړتيا کې رول لـري ، کـه چېـرې خپـل ارزښت ونه پيژني او يا ټولنه يې دموهبت څخـه محرومـه وي ، نـو دهغـې ټـولنې انحطـاط او زوالـ حتمـي دی ، ښـځه او نارينـه د حقوقـو او وجـايبو او وظـايفو پـه ترسره کولو کې سره برابـر دي ، الله تعـالی فرمـايي : **(وَلاَ تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ اللّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُواْ اللّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا)**[۱]

ژبـاړه : ځينـو تـه چـې الله جـل جلالـه څـه فضـيلت ورکړی دهغه تمه مـه کوئ د نارينـه ولپـاره هغـه څـه دي چې پلاس يې راوړي او د ښځو لپاره برخه دهغو ده چې لاسـته يي راوړي او د الله نـه وغـواړئ چې لـه

---

[۱]- د النساء سورت ۳۲ آيت.

خپل فضل او کرم نه يې درکړي ، يقينا الله تعالی په هر څه پوه او خبر دی.

نـو پـدې سـره اسـلام د ښـځو لپـاره ټـول اجتمـاعي ، سياسـي ، حقـوق پـه رسميت پيژنـي چـې يـو لـه دغـو مسـئلو څخـه د بيعـت موضـوع ده او نـن سبا پـه حق رای سره تعبيريږي ، يو ځل د هجرت په شپږم کال د حديبې سولې پرمهال، يوځل د مکې فتحی پر مهال په مکه کې ترسره شول ، ښځو دنارينه ؤ سره څنګ پـر څنګ پـه هغـه سياسـي او الهـی تـړون کـې ګـډون وکـړ ، رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم کلـه چـې دښـځو نـه بيعـت واخسـت اعـلان يـی وکـړ ، دوی د ټولنې د اصلي عناصر او بنسټيزو ارکانو څخه دی او کـولای شـي د ټـولنې پـه برخليـك کـې يقـين ټاکوونکې ونډه ولري .[1]

[1]- د (جايگاه حقوق زن،در قوانين جمهوری اسلامی افغانستان، مجموعه مقالات، همايش زنان در افغانستان از کبري گوهري ج ۳ ص ۲۵۸) کتاب څخه.

## د ښځو د حقونو په اړه ستونزې:

۱- مختلــف تــاوتریخوالی : لکــه ، فزیکــي ، روانــی ، اقتصــادی ، جنســی ، ټــولنیز ، صحی او روغتیایی تاوتریخوالی.
۲- مخکې له وخته ودونه.
۳- په زوره ودونه.
۴- په کورنیو او قبلیوی منازعـاتو کې دنجونو په بدو کې ورکول
۵- د تحصیل او تعلیم څخه د نجونو محرومیت
۶- دمالکیـت او میـراث حـق څخــه د ښــځو محرومیت
۷- د کاری فرصتونو څخه یې محرومیت
۸- ښځو ته په منفي او تبعیض سترګه کتل

## د حل لارې:

۱-د ټولنې فرهنګ تغییر او د اسلام واقعي احکام بیان شي.
۲- د هرډول تاوتریخوالی سره مبارزه وشي ، خاصتاً علمای کرام پدې اړه پاملرنه وکړي.
۳- اجباري او دوخت نه مخکې و دونه ممنوع شي.
۴-د ښځو ښونې او تحصیل ته زیاته پاملرنه وشي.
۵-دښځو شرعي او اسلامي حقوق دې رعایت شي.

## پایله :

د اسـلام مبـارك دیـن ډیـر ښـکلي حقـوق ښـځو تـه ورکـړي ، دا مـوږ یـو چـې د اسـلام نـاوړه تفسـیر مـو کړیدی او د قران په لارښـوونو عمـل نـه کـوو ، شـاعر وایی:

**(اسلام به ذات خود ندار د عیبی**

**هرعیبی که است در مسلمانی ماست)**

یعنی اسلام پخپله هیڅ عیب نلري هر عیب چې دی زمـوږ پـه مسـلمانۍ کې دی او تر هغه چې دغـه حقـوق ونـه پیژنـو او افغـانۍ ښځې ته په حرمت او حق قایل نشو نو زموږ د ټولنې ستونزې به حل نشی.